ادع الی سبیل ربک بالحکمة والموعظة الحسنة وجادلهم بالتی هی احسن الایة

د توحید او جهاد مجله

دعوت

د افغانستان د جماعة الدعوة الی القرآن و السنة د افکارو خپرونکی

(۲۷_۲۸) گڼه

واعتصموا بحبل الله جمیعا ولا تفرقوا



و چنگ زنید به رسن خدا، جمع آمده و پراگنده مشوید و یاد کنید نعمت خدا را که بر شماست
چون بودید دشمن یکدیگر پس الفت داد میان دلهای شما پس شدید به نعمت خدا برادر با یکدیگر



وان هذا صراطي مستقيماً فاتبعوه ولا تتبعوا السبل
فتفرق بكم عن سبيله ذلكم وصكم به لعلكم
تتقون ه (الانعام -۱۵۳)

ترجمه: يعني (وهرائينه) ان راه من است (راه)
راست، پس پيروي كنيد ان راه را و مكنيد
پيروي راه های ديگر را كه (اين راه ها) جدا
گرداند شما را از راه الله به اين حكم فرموده
است شمارا تا پرهيزگاري كنيد.

دعوت

د توحيد او جهاد مجله

بسم الله الرحمن الرحيم

قل هذه سبيلي ادعو إلى الله على بصيرة أنا ومن اتبعني وسبحان الله وما أنا من المشركين
سورة يوسف (۱۰۸)

د امتياز خاوند: دافغانستان جماعة الدعوة الى القرآن والسنة

مؤسس: امام الجهاد شهيد شيخ جميل الرحمٰن (رحمه الله)

سرپرست: الشيخ سميع الله

خپرونکې اداره: ددعوت او ارشاد رياست

پنځم کال - پرله پسې (۲۷ - ۲۸) گڼه -۱٤۱۳هـ ق کال د ذي القعدى او ذي الحجى مياشتي

دهيئت تحرير تر نظارت لاندې

دې گڼې مطالب

(عنوان) (مخ)

* سرمقاله ۲
* درس قرآن عظيم الشان ۵
* دپيغمبر سيرت د مسلمان د ژوند ۷
* حقوق اساسي زن مسلمان در اسلام ۹
* د دين تشريح ۱٤
* رهبانيت ۱۹
* مسلمانها در يوگوسلاويا ۲۵
* ژورنالستي درسونه ۳۰
* د رموز اشارتونه (شعر) ۳۳
* زمونږ أميد (شعر) ۳٤
* د ځوان نسل اسلامي ۳۵
* د محترم قاضي «وقاد» سره ۳۹
* اسلامي نړۍ ته پيښ مسايل ٤۱
* د اوقافو له وزير سره ٤٤
* ستاسو پوښتنې ٤٦
* دليکونو نهير ۵۱

په پاکستان کې د
گډون بيه:
مياشتنۍ: ۱۰کلدارې
کلنۍ: ۱۰۰کلدارې

په نورو بهرنيو هيوادونوکې د
گډون بيه:
مياشتنۍ: ۲ امريکائي ډالر
کلنۍ: ۱۰امريکائي ډالر

په داخل او په پاکستان کې زمونږ نمايندگان

په داخل کې: لعل محمد «افسوس»
اسلام آباد: عبدالله
پيښور: غنی الله «مسلم»
لاهور: حماد شاکر
کراچی: چوهدري ظهور احمد
کوټه: عرفان منگل
مظفر آباد: بشير قريشي

په نورو بهرنيو هيوادونو کې زمونږ نمايندگان

سعودي عرب: فيضان الله
امريکا: عبدالرحمن احمد
بريطانيا: منور علی
جرمني: وائی - ايم حميم
هالينډ: عماد الدين بکری اسماعيل

مکاتباتي پته: «دعوت مجله» - پوسټ بکس نمبر ٦۱٤ پښاور پاکستان

بانکي حساب: جماعة الدعوة الى القرآن والسنة - اکاونټ نمبر ۱۹٤٦٥ -حبيب بينك کينټ - صدر روډ- پښاور.

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

کابل د وياړ ټوپانو پېغلي ...

د کابل د ښاريانو غوږونه لا د راکټ باران له هيبتناکو غږونو څخه آرام شوی نه وو چه د مسلمان وژنی په يو بل افت (زهری افت) اخته شول.

که سړی په نړۍ واله سطحه د عالم اسلام او په خاص ډول د افغانستان پيښو ته په غوړيدلو سترگو وگوری او د روانی پيړۍ هغه عالم شموله دسيسی چه د نړۍ وال استکبار له لوری د نړۍ د مسلمانانو پرضد د تطبيق په ډگر کی د پلی کيدو په حال کی دی وڅيړل شی، دا به جوته شی چه نړی وال کفر د يهودو تر مستقيمی څارنی او لارښودنی لاندی په خپل ټول طاقت سره د اسلام او مسلمانانو د ورکاوی لپاره لگيا دی طراحی کوی او پلانونه جوړوی.

د افعانستان د مسلمان او مظلوم ملك په حدودو باندی د روسی ځواکونو تيری او ددغو کفری قواؤ پرضد د مستضعفو او تش لاسو افغانانو څوارلس کلن وسله وال جهاد او بی ساری مقاومت دا ثابته کړه چه الهی تدبيرونه د کفری مکرونو او نيرنگونو خنثی کوونکی او له مينځه وړونکی دی، خو مسلمانانو ته دا په کار دی چه له صبر، زغم او په الله تعالی باندی له توکل څخه کار واخلی.

د افغانستان د مستضعف او مسلمان ملت سپيڅلی څوارلس کلن جهاد که له يوی خوا د وخت فرعونی ځواکونه د شپاړس لکو ازمايل شويو شازلمو د پاکو وينو د تل پاتی سيلاب په تل کی غرق کړل، نو له بلی خوائی د نړۍ مظلومو ولسونو ته د آزادۍ او خود اراديت ژوند بخښونکی درس ورکړ او د نړۍ په گوټ گوټ کی د يرغلگرو او مستبد حکومتونو او نظامونو پرضد د آزادی غوښتنی تحريکونه پيل شول.

هوکی، دا ټول وياړونه الله تعالی مونږ ته د هغه نيك او پرځای اقدام په بدل کی اعطاء کړل چه د الله تعالی د دين د حاکميت او تنفيذپه نيت پيل شوی ؤ، خو افسوس چه مکار او غدار دښمن ډير نيرنگباز اومونږ ساده او ډير زرغافل او په سرسری بريو او د دښمن په مړ ژواندی حالت ډير زر دوکه کيږو.

اوس چه موږی دښمن د مخامخ جگړی توان نلری، له خدعی او نيرنگ څخه کار اخلی، جهادی ځواکونه په بيلو بيلو نومونو يو د بل په مقابل کی استعمالوی او په شکل د اشکالو تنظيمی، ژبنی،

قومي، مذهبي او سمتي حساسيتونه پاروي، غواړي په يوه او بله پلمه د مسلمانو مجاهدينو ځواكونه په خپلو منځو كې خنثي او هم ئې له هغه مسلمان او تش لاسي ولس څخه بيل كړي چه مجاهدينو د هغوی د ظاهري او باطني مرستو په زور دوی راپرزولي وو.

له بلې خوا ځينې ناپوه دوستان چه په زړونو او دماغو ئې د مذهبي تعصباتو خپسه پرته ده غواړي زمونږ د اتل ولس له دغه ستړي او ژوبل حالت څخه د خپلو لاس پوڅو په گټه له خپل نفوذ څخه استفاده وكړي، هم د اسلامي نړۍ له گډ دښمن سره يو ځاى زمونږ د رنځيدلي مسلمان ملت په ستوني پښه ږدي او په دې وسيله په غړيدلو سترگو اوبه د دښمن په ژرنده اړوي.

د كابل اوسني بحران چه په اصل كې د كمونيزم د لعنتي او پرزيدلي مكتب د هغو پيروانو له خواچه په مصنوعي توگه په مجاهدو ځواكونو كې تقسيم شوي، منځ ته راغلي او داسي بنه ئې غوره كړې چه كه د مخنيوى لپاره ئې وړ اقدامات ونه شي، د مسلمانو عوامو او مجاهدينو تر منځ ددايمي بيلتون ويره موجود ده.

په هغه راپور كې چه پدې وختونو كې له كابل څخه رارسيدلي او د كابل راډيو په شمول ټولو خبري أژانسونو او مطبوعاتو خپور كړي، ويل شوي چه: نژدې يوه مياشت كيږي چه د كابل ښاريان برسيره پر دې چه دداخلي جنگونو له لاسه د ميزايلو او توپ خانې په اور كې سوزيږي، د خوراكي موادو او تازه ميوې په خوړلو سره د شهادت جامونه هم څښي.

د يو موټي افغانستان د مسلمانو افغانانو قسم خوړلي دښمنان غذائي مواد او تازه ميوې په زهرو لړي او يا زهر پكې پيچكاري كوي چه ددې كار لپاره ئې بوډاگان، ماشومان او ښځې په پيسو اخيستي او د يوې زهري پيچكاري په بدل ورته څلويښت زره افغاني اجوره وركوي.

«ددعوت» د مجلې خبريال وائي چې په كابل كې اكثر پروتينې او ويټامين لرونكي مواد په زهرو لړل شوي او خلك ددې موادو له خوړلو او د نه ايشيدلو اوبو له څښلو څخه منع شويدي.

ديو شمير روغتونونو او بيلابيلو منابعو په استناد زيات خلك د بادرنگو ، امونو، هندوانو، پنير او ځينو شربتونو په وسيله مسموم شوي او خپل ژوند ئې له لاسه وركړي دي.

د يوې احصائى له مخې چه مطبوعاتو خپره كړې د سلو نه زيات كسانو د زهرو په وسيله خپل ژوند د لاسه وركړي چه دا شمير د وخت په تيريدو سره مخ په زياتيدو دي، د وحدت ورځپاني له قوله د يوې كورنى ټول غړي ددوه ماشومان څخه غير چه هغوى د ډوډۍ له خوړلو د مخه ويده شوي وو، نور ټول ددې كورنى غړي په حق ورسيدل، د خيرخانى مينى د پولى كلينيك دعاجل سرويس يو ډاكتر د «دعوت»

د مجلې خبریال ته وویل چه: د روان کال دسرطان دمیاشتې په دوهمه نیټه پداسې حال کې چه د ام او بادرنګو په خوړلو سره دوه ناروغانو ته سیروم چالان وو، چه یوه میرمن په آه او فریاد روغتون ته راوستل شوه، دې میرمنې په ایرانۍ شامپو سره سر مینځلی ؤ او چیغې ئې وهلې چه سر مې اور اخیستی دی، په همدې وخت کې یو بل هلك چه عمر ئې له شپږو کالو څخه زیات نه ؤ، هم په داسې حال کې روغتون ته راوستل شو چه مور او پلار ئې په سرو سترګو ژړل، دغه ماشوم نیم ساعت وړاندې بادرنګ خوړلی ؤ.

اوس چه د موادو مسمؤنکې څرګند شوې او هره ورځ د هغو یو شمیر نیول کیږي، معلومه شوې چه دا یوه داسې ډله ده چه ځانونه مسلمانان ګڼي او حکومت د هغو هویت هم اعلان کړی دی، دا چه ددې جنایت تر شا څه سیاسي ملحوظات پټ دي، څرګنده نه ده، خو په عام طور داسې ویلی شو چه دا جرم هغه جرم دی چه د اسلامیت او بشریت له مخې په هیڅ ډول د بخښنې وړ نه دی.

په هر صورت د «دعوت» مجلې د خبریال د معلوماتو له مخې دا وخت په کابل کې د کابل ښاریان د تازه میوو، شربتونو، تازه سبو او اکثروغذائي موادو له خوړلو څخه محروم او پرهیز دي، د افغانستان جماعة الدعوة الی القرآن والسنة چه د خپل منهج په اساس ئې د تل لپاره د امر بالمعروف او نهی عن المنکر وظیفه سرته رسولې، اوس هم هیله لري چه د افغانستان جهادي مشران د وخت حساسیت او خپل مسئولیت درك کړي، پرې نږدي چه ددوی ډله او ځواکونه د کمونیستانو او نورو اسلام دښمنو ځواکونو د لاس آله شي، کومې پریکړې ئې چه په جلال آباد کې کړې، د هغو د عملي کولو لپاره دې صادقانه ګامونه پورته کړي، د اسلام او مسلمان ملت مصالح او منافع دې تر خپلو ګوندي او شخصي ګټو پورته او لوړې وګڼي او پدې لار کې دې قرباني ورکړي،څو په ګران افغانستان کې اسلامي امنیت تأمین شي، وضع عادي حال ته راشي لمړې دې درنې او بیا دې سپکې وسلې راټولې کړې شي، د هیواد د بیا ودانولو کار دې پیل شي.

د هیواد د اساسي قانون مرجع دې قرآن او سنت وي، څو مسلمان او غیر مسلمان د اسلام د مقدس او کامل دین له خوږو څخه برخمن او د اسلام او افغانانو د دښمنانو ناولې هیلې له خاورو سره خاورې شي، راځۍ چه د اقتدار غوښتنې دغه لعنتي مسابقه نوره پای ته ورسوو او یو ځل بیا ټول د اسلام په خوره او له عطوفت نه په ډکه غیږه کې له آرامۍ او سوکالۍ سره یو ځای خپل ژوند سرته ورسوؤ.

«وما النصر إلا من عند الله»

برکات رعد وبرق

«هوالذي يريكم البرق خوفاً و طمعاً و ينشيء السحاب الثقال».
«ويسبح الرعد بحمده والملائكة من خيفته و يرسل الصواعق»
«فيصيب بها من يشاء و هم يجادلون في الله وهو شديد المحال»

ترجمه: او (الله تعالی) کسیست که برق را بشما نشان میدهد که هم مایه است هم امید وابرهاي سنگین بار ایجاد میکند . و رعد تسبیح وحمد او میگوید و(نیز) فرشتگان از ترس او ، وصاعقه ها را میفرستد وهرکسي راکه بخواهد گرفتار آن میسازد در حالیکه آنها با مشاهده این آیات خدا بازهم در باره خداوند به مجادله مشغولند و او قدرتي بي انتها (ومجازات درد ناك) دارد.

تفسیر :- قرآن مبارك در اینجا به آیات توحید ونشانهاي عظمت الله تعالي واسرار آفرینش پرداخته و باانگشت گذاشتن روي قسمت هاي مختلفي از پدیده هاي طبیعي واشاره هاي کوتاه وپر معني به اسرار وخواص آنها رابطه بندگان را با پروردگار شان نزدیك تر کرده ، نور ایمان ومعرفت ها درقلب ها یشان مي پاشد نخست به برق (برقیکه در میان قطعات ابر پیدامیشود) اشاره کرده مي فرماید : او (الله تعالي) کسیست که برق ها که مایه ترس وطمع میباشد به شما ارایه میدهد.

پیدایش برق از نظر علمي بخاطر آنست که دوقطعه ابر یا الکتریته هاي مختلف(مثبت ومنفي)

به هم نردیك میشوند و درست هما نند سر دوسیم برق که به هنگام نزدیکي جرقه میزند آنها نیز جرقه عظیمي ایجاد کرده وبا صطلاح تخلیه الکتریکي میشوند.

اگر جرقه ها ي کوچکي که از سر دوسیم در برابر چشم ما آشکار میشود صداي خفیفي دارند ، در عوض صداي جرقه آسماني برق به خاطر گسترش ابر وبالابودن میزان الکتریته بقدري شدید است که " رعد" را بوجود میآورد.

وهر گاه قطعه ابر یکه داراي الکتریته مثبت است به زمین که همیشه الکتریته منفي دارد نزدیك شود ، جرقه درمیان زمین وابر ایجاد میشود که آنرا صاعقه میگویند وخطرناك بودنش به همین دلیل است که یك سر آن زمین ونقطه هاي تفعي است که به اصطلاح نوك این سیم را تشکیل میدهد حتی یك انسان دریك بیابان ممکن است عملاً تبدیل به نوك این سیم منفي شود و درست جرقه وحشتناکی که بر سر او فرورد آید و در یك لحظه کوتاه تبدیل به خاکستر شود ونیز به همین دلیل است که به هنگام رعد و برق در بیابانها باید فوراً به کنار درخت یا دیوار یا کوه و یا هر نقطه مرتفعی پناه برد و یا در گود الی در از کشید.

اکتشافات علمی نشان داده که برق فواید وبرکات فراوانی نیز دارد که ذیلاً به آن اشاره میشود.

۱- آبیاری: برقها معمولاً حرارت در حدود پانزده هزار درجه سانتیگراد را تولید میکنند و این حرارت کافی است که مقدار زیادی از هوای اطراف را بسوزاند و در نتیجه فشار هوا فوراً

کم شود و میدانیم در فشار کم، ابرها می بارند و به همین دلیل غالباً متعاقب جهش برق رگبارهائي شروع میشود و دانهای راشت باران فرو میریزند و از ینرو برق در واقع یکی از وظایفش آبیاری است.

۲- سمپاشی - به هنگامیکه برق با آن حرارتش آشکار میشود قطرات باران با مقداری اکسیجن اضافی ترکیب میشوند و آب سنگین یعنی آب اکسیجن (H_2O_2) ایجاد میکنند و میدانیم آب اکسیجنه یکی از اثارش کشتن مکروبهاست و به همین جهت در مراکز طبی برای شستشوی زخمها به کار میرود، این قطرات آب اکسیژنه هنگامیکه بر زمینها می بارد، تخم آفات و بیماریهای گیاهی را از بین می برد وسمپاشی خوبی بر آنها می کند وبه همین جهت گفته اند هر سالی که رعد وبرق کم باشد آفات گیاهی بیشتر است.

۳- تغذیه و کود رسانی: قطرات باران که بر آثر برق وحرارت شدید و ترکیب، یکی از حالت اسید کاربنی پیدا میکند که به هنگام پاشیده شدن بر زمین ها و ترکیب با آنها یك نوع کود موثر گیاهی میسازد وگیاهان ازین طریق تغذیه میشوند. بعضي از دانشمندان گفته اند مسئله ار کودی که در طی سال از مجموع برق های آسمان در کره زمین به وجود میآید دهها ملیون تن است.

بنا برین می بینیم همین پدیده ظاهراً پیش پا افتاده و بی حاجت طبیعت چقدر پر بار و پر برکت است. هم آبیاری میکند، هم سمپاشی میکند و هم تغذیه و این نمونه کوچکي از اسرار شگرف و پر دامنه عالم هستی است که رهنمون روشنی بر مسأله خدا شناسی می تواند باشد.

از سوی دیگر آتش سوزیها یکه از یك نوع برق (صاعق) بوجود می آید گاهی ممکن است انسانها یا درختان را بسوزاند.

هر چند این امر کم و نادر است وقابل اجتناب ولی میتواند عامل خوف و ترس شود و باین ترتیب آنچه در آیه فوق خواندیم که برق هم مایه ترس است وهم امید، ممکن است اشاره به مجموع امور باشد.

آیه بعد به صدای رعد می پردازد که از برق هر گز جدا نیست و می فرماید «رعد تسبیح و حمد الله می گوید، (و یسبح الرعد بحمده) آری این صدای پر طنین جهان طبیعت که ضرب المثل در عظمت صوت است از آنجا که تو ام با پدیده برق میباشد وهر دو در خدمت یك هدف قرار دارند و خدمات پر ارزشی بعهده دارند که در بالابان اشاره شد عملاً به تسبیح الله تعالی می پردازد و به تعمیر دیگر رعد زبان گویان برق است که حکایت از نظام آفرینش و عظمت خالق می کند. ذات اقدس الهی را مدح می کند و مي ستاید. ذرات این عالم هستی که همه اسرار آمیزند، نظام بسیار دقیق و حساب شده ای دارند همگی از پاکی خداوند و منزه بودن او تعالی از هر گونه عیب و نقص سخن میگویند.

فلاسفه جهان عقیده دارند که تمام ذرات این جهان هر یك برای خود نوعی از عقل و شعور دارند و از روی همین عقل وشعور تسبیح و تقدیس آفریدگار جهانها را بجامی آرد، نه تنها با زبان حال بلکه با زبان قال نیز او را می ستایند.

نه تنها صداي رعد ویا سایر اجزای جهان، تسبیح او می گویند که همگی فرشتگان نیز از ترس و خشیت الله تعالی به تسبیح او مشغولند (والملائکة من خیفته) وبرای توضیح بیشتر در زمینه رعد وبرق اشاره به صاعقه ها می کند و میفرماید: خداوند صاعقه ها را می فرستد وبه هرکس که بخواهد بوسیله آن آسیب می رساند.

ولی با این هم و با مشاهده آیات عظمت پروردگار در عالم آفرینش در پهنه زمین و آسمان، در گیاهان و درختان و رعد و برق و مانند آنها و با کوچکی و حقارت قدرت انسان در برابر حوادث، حتی در برابر یك جرقه آسمانی باز هم گروهی از بی خبران در باره آفریدگار جهان به مجادله و ستیز برمی خیزند (وهم یجادلون في الله) در حالیکه خداوند قدرتی بی انتها و مجازاتی دردناك و کیفری سخت دارد.

د پیغمبر ﷺ سیرت د مسلمان د ژوند

د لارې مشال دی

د شهید شیخ جمیل الرحمن رحمه الله له خطباتو څخه

د شلمې پیړۍ څو وروستیو لسیزو د نړۍ د مسلمانانو ژوند په ډېرو سختو او وخیمو لومو کې ښکیل کړی او د یوې ورځې په تیریدو، پرته له دې چه انسان فکر وکړي چه فلاح بیا مومي بله بدتره او ځوروونکې راځي. سره له دې چه مسلمانانو دادرك کړی ده چه د طاغوت لاس وهنو او ددوی د څرګندو مداخلو سبب دی، مګر ددوی د ظاهري سیاست تر پنجو او تاثیر لاندې دي.

د نړۍ بادرك او زيرك شخصیتونه دا ډېره ښه احساسوي، لیکن هر یو د خپل احساس تر څنګ یو لړ مشکلات نه پرېږدي چه هغه یو مصمم اقدام وکړي، ځوروي ئې. ددې تر څنګ داسې ویدهٔ اشخاص هم شته چه ددې ټولو مشکلاتو او ستونزو دحل امکانات په پوره او یا نیمه پوره توګه په لاس کې لري او بیا هم خپل غرض، عیش او عشرت راخستې دی او ضمیرونه ئې د لټۍ او کهالت په پالنګونو خوبونه کوي.د هغو بادرکو او زیرکو اشخاصو په ډله کې یو هم د کنړونو د ولایت د سیدجمال الدین افغاني څخه وروسته د افغانستان د مقدس جهاد بنسټ ایښودونکی شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله) دی. چه له خپل شهادت څخه ئې څه موده وړاندې د مسلم امت د فلاح او خلاصون لپاره د خوږ نبي کریم ﷺ د سیرت د لارې د غوره ګڼلو په باب وینا کړې وه. چه دادې مونږ ئې د دعوت مجلې د ګرانو لوستونکو په خدمت کې د وینا لنډ متن لازم ګڼو چه وړاندې کړو.

محترمو ورونو! اسلام علیکم ورحمة الله و برکاته!

نبي کریم د الله تعالی بنده هم او رسول هم ؤ او د الله تعالی حکم ئې بشریت ته په کامل ډول ورساوه، لیکن له هغه څخه وروسته ددې رسالت او اسلامي دعوت د چلولو مکلفیت او ذمه واري د مسلم امت په غاړه دی چه د الله تعالی دین ته به نور خلك هم دعوت کوي او پخپله به هم د ژوند لارې ته د قرآن او سنت لیتکې بلوي، تر څو پدې لار ټول مسلم امت سالم تلل وکړي.

نبي کریم ﷺ خپله ذمه واري او مسئولیت سرته رسولی او خپل رسالت ئې په کامله توګه اداء کړی دی، اوس ددې وار دی چه ټول مسلمانان د نبي کریم ﷺ دغه لارښوونې او تعلیمات عملاً ټول بشریت ته په هغه طریقه ورسوي کوم چه رسول الله ﷺ رسولی دی. که چیرې د سیرت النبي ټوله مطالعه وکړل شي، ددې څخه جوتیږي چه د نبي کریم ﷺ ټول سیرت د دعوت الی الله په واقعاتو او حالاتو مشتمل دی. او همدا راز داټول واقعات الله تعالی پخپل کتاب قرآن مجید کې ډېر ښه په صراحت او تفصیل سره بیان کړي دي. قرآن پاك کې فرمائي:«قل هذه سبیلی ادعو الی الله علی بصیرة انا ومن اتبعنی سبحان الله ومانا من المشرکین»

ترجمه: ای پیغمبره! ووایه! دا زما لاره ده او خلك د الله تعالی په طرف د بصیرت په بنیاد رابلم (یعني) زه او زما اتباع کونکي، الله تعالی پاك دی

او د مشرکینو له جملې څخه نه یم.

دادعوت الی الله دنبی کریم ﷺ د سیرت ترټولو اهم ترینه برخه ده، ددعوت دی کارونو څو مرحلې طی کړی دی.

نبی کریم ﷺ په آوایلوکی ددعوت کار یوازی او یوازی په ښکاره دلایلو او وعد او وعید یعنی له جهنم څخه دعذاب او دجنت دثواب په بیانولو ترسره کړی دی، مګر کله چه حضور ﷺ له مکی نه مدینی منوری ته د هجرت تشریف وفرمائلو، د وعداو وعید د دلایلو د بیانولو سره سره د جهاد او قتال په مرحلو کی داخل شو. ددی لپاره پر نبی کریم ﷺ هم د جهاد کول فرض شول او په ټولو مؤمنانو هم د جهاد کولو د فریضی حکم نازل شو او دغه راز په مدینه منوره کی ددعوت کار دجهاد او قتال په ذریعه پیل شو.

له ډیری مودی راهیسی د نننۍ نړۍ مسلمانان ورځ په ورځ داسلام له مقدس دین څخه فاصله اختیاروی او خلاصون او کامیابی په لاس نه ورځی، ددی علت او وجه څه ده؟ باید ووایوچه ددی اصلي وجه او علت د خوږ نبی ﷺ له نقش قدم او تګ لاری څخه د مسلمانانو او وښتل دی او دهغه سیرت مسلمانانو په اصلی معنوکی نه دی خپل کړی اود خپلولو لپاره ئی څه خاص کوښښ او لټون نه دی کړی. نن چه ګورو د مسلمانانو په ژوند کی د نبی کریم ﷺ سیرت نه بریښی، بلکی دمسلمانانو ژوند ددی برعکس جوړ شویدی. که کوم څوك دعوت او تبلیغ کوی؛ په هغه طریقه او معیار پوره نه وی په کومه طریقه چه نبی کریم ﷺ کړی دی. تر هغی چه د نړۍ مسلمانانو د رسول الله ﷺ د سیرت صحیح او مسلمه لار نه وی خپله کړی؛ تر هغه وخته پوری به نه مسلم امت د خلاصون لار وموم‌ی او نه به د خپل وقار او عزت خاوند شی.

قرآن کریم د رسول الله ﷺ سیرت دی او د رسول الله ﷺ پاك سیرت د نیکمرغۍ، خلاصون او کامیابۍ تاریخ دی.

تاسو ولیدل چه د افغانستان مسلمانانو د رسول الله ﷺ دغه سیرت په عملی ډول خپل کړ، الله تعالی د عزت سره سره فتحه هم ورکړه، مګر ډیر کلونه کیږی چه د ځینو اسلامی ممالکو مسایل پراتهٔ دی، خو مسلمانان یی حل د بین المللی ادارو په ذریعه غواړی.

مګر ای مسلمانانو! یا د وساتی!!! «چه بین المللی اداری نه د مسلمانانو مسئلی حل و فصل کولی شی او نه یی حل وفصل کوی!» تر څو پوری چه مسلمانانو نبوی سیرت په عملی ډول خپل کړی نه وی؛ د خلاصون لار یی زما په نظر بله نه ښکاری.

دا د ټولو مسلمانانو مسئولیت دی چه ددی ذمه واری او مسئولیت د سرته رسولو لپاره د سر او مال له قربانۍ څخه ډډه ونه کړی او دی قربانۍ ته همیشه تیار اوسی.

تر څو به مسلمانانو طاغوتی اداروته، چه دمسلمانانو تر منځ یی جغرافیایی کرښی راښکلی دی او په یو او بل نوم یی تفریق کړی دی، سترګی نیولی وی!؟ پخپله ولی خپلی ستونزی او پیښی مسئلی دقرآن او سنت په اداره کی نه حل وفصل کوی!؟ د ټولو مسلمانانو لپاره د قرآن او سنت څخه پرته بله لویه اداره وجود نه لری.نبی کریم ﷺ فرمایی: «ټول مسلمانان د یو جسد په شان دی» هیواد، قومیت، ژ به او رنګ د ددوی تر منځ د تفرقی او بیلوالی سبب نه دی، ځکه اسلام ددی شیانو هیڅ پروا نه ده کړی. که نن ګورو د مسلمانانو تر منځ همدغه یو څو ټکی دی چه د اسلام دښمنان ترینه د استعمال د الاتو په څیر کار اخلی او مسلمانان کله په یوه پلمه او کله په بله پلمه پخپلو منځو کی سره جنګوی. د رنګ،ژبی، قومیت او دا جغرافیایی کرښی چه اسلامی امت یی په بیلو بیلو هیوادونو ویشلی دی، دا په نظر کی نیول د اسلام له اصولو خلاف او دمسلمانانو تر منځ د تفرقی اهم اسباب دی او اسلام په دی باب ډیر تاکید کړی دی.

د نبی کریم ﷺ پاك سیرت د ټولو مسلمانانو لپاره یو اهم ضرورت دی، ځکه د مسلمانانو لپاره د نورو په تقلید کی هیڅ فایده نشته. نه د شرق ځواك چاته دا سند ورکولی شی چه د هغه امامت او پیروی قبوله کړی او هر ډول مسئولیت یی په غاړه واخلی او نه د غرب ځواکونه دا کولی شی، مګر د ځمکی او اسمانونو د مالك عظیم کتاب د مسلمانانو لپاره هغه سند دی او هغه ملګرتیا ده چه ددی په پیروۍ او تقلید کی دمسلمانانو لپاره دنیاوی او آخروی کامیابی او سر لوړی تضمین ده.

حقوق اساسی زن مسلمان در اسلام

در سراسر کشورهای شرق در حال حاضر هیجان و غوغائی بنام حقوق زن بعنوان مطالبهء مساوات کامل میان زن ومرد وجود دارد! و در میان این هیجان که از جهتی شبیه به تب است، از طرف مردان وزنان مبتلاء باین تب هذیانی راجع باسلام بگوش می رسد.

بعضی ازین هذیان بافها برای گمراه کردن اذهان می گویند: اسلام زن را در همه چیز برابر مرد قرار داده و بعضی دیگر از سر جهل و غفلت می گویند: اسلام دشمن زن است و آبرو و حیثیت او را فرو کاسته است و او را در مرحلهء نزدیك به حیوانات قرار داده است بعبارت دیگر، زن را بصورت یك بازیچه ووسیله کامرانی و ماشین توالد و تناسل در اختیار مرد گذارده است ومرد را بر او مسلط ساخته و در هر مرحله ومقام بر زن ترجیح وتفضیل بخشیده است.

شك نیست که این دو دسته از هذیان گران، هیچکدام حقیقت اسلام را نشناخته اند و اگر هم شناخته باشند، از روی سوء نیت و بقصد برانگیختن فتنه و فساد، حق را کتمان کرده ودر پس پرده باطل را نهان ساخته اند تا باین وسیله آب گل الودی فراهم کنند و از آن آب گل الود ماهي بنفع خود بگیرند.

ما اکنون پیش از آنکه حقیقت وضع زن را در اسلام روشن سازیم بهتر است که تاریخ قضیه زن در اروپا را بطور اجمالی از نظر بگذرانیم زیرا همین موضوع است که از طریق تقلید بشرق نفوذ کرده و این فتنه را بوجود آورده است.

شك نیست که زن در اروپا و سایر نقاط جهان موجودي بی ارج و بها بوده و هیچگاه در هیچ اجتماعی او را بحساب نمی آوردند، بلکه علماء و فلاسفه در باره او مجادله و نزاع داشتند که آیا زن اساساً روح دارد یا بکلی فاقد روح است؟ و در صورتی که روح داشته باشد، آیا روحش انسانی است یا حیوانی؟ و بر فرض داشتن روح انساني آیا وضع اجتماعي و انسانی او نسبت بمرد، وضع بردگی است، یا کمی بالا تر از آن؟

این نظر عمومی جهان در باره زنان بود، وحتی در فرصتهای کوتاهی هم که زن مقام اجتماعی آبرو مندی پیدا می کرد، چه در یونان و چه در امپراطوری روم احراز این مقام مربوط بجنس زن نبود بلکه این مزیت و مقام مربوط بچند نفر زنان وآنهم از جهت خصائص و صفات مشخص ایشان بود وگاهی هم مربوط به زنان پایتخت و از جهت آن بود که این زنان زیب و آرایش مجالس ووسیله ای از وسایل کامرانی و تجمل اغنیا بودند، ولی بهر حال، هیچگاه زن بعنوان یك انسان دارای آبرو و حیثیت و حقوق و شخصیت مورد احترام و تکریم

اجتماعی نبود.

این وضع در دوره های برده فروشی و تیولي در اروپا همچنان ادامه داشت و زن در بحبوحه جهل وبیخبری خود گاهي وسیله شهوترانی و گاهی مانند چهار پایان در کار آکل و شرب وحمل وزایمان و امثال ان بود، تا آنگاه که انقلاب صنعتی پدید آمد وزن دریك زندگانی طوفانی در افتاد که در تاریخ طولانی حیاتش سابقه و نظیرنداشت. طبیعت اروپائی کلیه ادوار با سختي وخود خواهي توام بود و هیچگاه به مرد اروپائی اجازه نمی داد که از روی طوع و رغبت و پیروی از مروت و فضیلت بوظیفه کفالت و نگهداری زن در وضع آبرومند قیام کند، ولی اوضاع اقتصادی در دوره های برده فروشی وتیول همچنین تجمع و همکاری ایکه لازمه زندگانی و در محیط کشاورزی بود بطور طبیعي ایجاب می کرد که مرد زندگاني زن و امور معیشیت او را عهده دار شود، خاصه آنکه زن در این ادوار بکار های خانه داری و صنایع ساده و ملایم بازندگاني کشاورزی اشتغال داشت و مزد کفالت مرد را از این رهگذر می پرداخت! ولی انقلاب صنعتی اوضاع زندگی ده و شهر را بکلی واژگون کرد واساس خانواده را در هم شکست وپیوند زندگی عائلي را در اثر اشتغال زنان و کودکان در کارخانه ها از هم بگسیخت خاصه آنکه زندگانی صنعتي ایجاب میکرد که کارگر ان از دهکده به شهر ها مهاجرت کنند و از زندگاني در دهکده که لازمه آن تعاون و تضامن است به زندگانی شهری که در آن زندگانی هیچکس کسی را نمی شناسد و کفالت دیگری را بر عهده نمي گیرد در آیند و البته محتاج بتوضیح نیست که در اینگونه زندگی هر یك از افراد در کار وکامرانی مستقل است و استفاده از شهوات جنسی از راه حرام، بسیار ساده و آسان است و لازمه این نوع استقلال و فراهم بودن لذت جنسی از راه حرام اینست که افراد نسبت بزنا شوئی بی علاقه می شوند و زیر بار مشکلات زندگی خانوادگی نمی روند و از این جهت افراد یا در حال عزوبت باقی می مانند و یا فقط در آواخر عمر همسر می گیرند!

در اینجا منظور ماآن نیست که تاریخ اروپا را بر خوانننده محترم عرضه کنیم بلکه منظور ما تنها تذکر عواملی است که در زندگی زنان موثر بوده است.

گفتیم که انقلاب صنعتي زنان و کودکان رادر کارخانه ها بکار وا داشت ودر نتیجه روابط خانوادگي را بگسیخت واساس زندگي عایلي را برهم زد، ولي غرامت وزیان این تحول و انقلاب متوجه زنان شد زیرا از طرفي زن ناچار شد که برای تأ مین معاش خود در کار خانها با مرد وارد عرصه مبارزه و رقابت شود و از طرفي مجبور شد که آبرو وحوایج روحی و مادی خود را بر سر اینکار نهد، زیرا دیگر مرد از او نگهداری نمي کرد و کارخانه ها نیز ضعف و بیچارگی و احتیاج آو را مورد سوء استفاده قرار دادند و با آنکه ساعت کارش کمتر از مرد نبود، دستمزد بسیار کمتر از دستمزد مرد براي او تعیین کردند.

شاید مطالعه این فصل از مظالم و تعدیات در باره زن در نظر اولی موجب تعجب باشد، ولی وقتی بدانیم که این مظالم از مرد اروپائی سرمی زده، تعجب ما رفع خواهد شد، زیرا مرد اروپائی سنگین دل و خود خواه و منفعت پرست است و در برابر لذت و منفعت خود نه تنها برای حق وکرامت بشریت، بلکه برای هیچ امر مقدسی ارزش قائل نیست و تا آین که قدرت بر ارتکاب شر داشته باشد، دست بعمل خیر نخواهد گشود.

با وجود اینهمه سنگین دلی و خود خواهي که در سراسر اروپا رواج داشته و دارد، باز گاه و بیگاه دلهائی زنده ودارای فروغ انسانیت یافت می شد وبا شدت و حرارت در مقام دفاع از

کود کان بینوا بپا می خاسته است، ولی البته این دفاع نیز به کودکان بوده و زنان از آن بهره ای نداشته اند!

حال رقت بار کودکان بینوا در زیر بار کمرشکن کار طوری بود که مصلحین اجتماعی را بایشان متوجه ساخته و آنانرا بر آن داشت که با اشغال کودکان خرد سال مخالفت و مبارزه کنند و از تحمیل کارهای فوق طاقت برایشان مانع شوند و قلت دستمزد کودکان و عدم تناسب میان کار و مزد ایشان را مورد انتقاد شدید قرار دهند.

البته این حملات پیاپي بی تاثیر نماند و سر انجام سن اشتغال بکار را بالا برد و از ساعت کار فرو کاست و بر مقدار مزد بیفزود.

این اقدامات مؤثر چنانکه اشاره شد، تنها در باره کودکان انجام شد، ولی زن، همچنان ستمزده وبی کار و مدد کار باقی ماند، زیرا یاری وطرفداری زن محتاج بمقدار بیشتر از عواطف و احساسات بود که متأسفانه در اروپا وجود نداشت! و بهمین وضع زنان بآن صورت رقت بار وخسته کننده باقی مانده وکار طاقت فرسا ومزدکم همچنان اعصاب او را می فشرد و استخوانهایش را خرد می کرد تا آنگاه که جنگ بین المللي اول زبانه کشید و میلونها از جوانان اروپائی و امریکائی را طعمه خود ساخت و بارهای کمر شکن و جانگاه دیگری بربار مشکلات زنان بیفزود. زیرا میلونها زن بی سرپرست بر جامعه زنان بینوا افزوده شد! جماعتي از آن بینوایان شوهر خود را در جنگ از دست دادند و جماعت دیگر درکنار شوهرانی قرار گرفتند که اعضایشان ناقص شده بود ویا در اثر ترس ووحشت وغریو توپها و طیاره ها و یا در اثر فشارگازهای زهراگین و خفه کننده، نیروی اعصاب توازن مشاعر خود را از دست داده بودند یا به علت تحمل چندین سال حبس و شکنجه، باسایش و استراحت طولانی محتاج بودند و طاقت تحمل بار مشکلات خانواده را نداشتند.

از طرف دیگر در اثر کمبود عده، مردها، کارخانه ها بقدر کافي کارگر نداشتند وعده مردان کارگری که از جنگ جان به سلامت برده بودند، برای ترمیم خرابیهای جنگ و اداره و بکار انداختن کارخانه ها کافي نبود، بهمین جهت، زن مجبور بود که بجای مرد کار کند، زیرا در غیر این صورت خودش و شوهرش علیل و کودکانش گرسنه می ماندند.

صاحبان کارخانه ها وکارمندان آن تنها بکار کردن زن اکتفاء نمی کردند بلکه از این فرصت که مرغها بابال و پای خود از شدت گرسنگی بدام می افتند، حد اکثر استفاده را منظور می داشتند و لحظه ای از شکار غفلت نمی کردند وما دامي که زنانی حاضر بودند که علاوه بر کار، کام ایشان را نیز برآورند، مسلماً برزنانی که تنها با انجام کار اکتفاء می کردند، فرصت نمی رسید.

بعلاوه گرسنگی زنان نیز تنها گرسنگی و احتیاج بنان نبود زیرا احتیاج به مرد برای زن یك امر غریزی و یك سنت طبیعی است و از طرفي در صورتي که همگی جوانان و باز ماندگان جنگ نیز به ازدواج تن درمی دادند، باز عده ایشان نسبت بعده دختران و زنان بی شوهر تکافو نمی کرد، زیرا آتش جنگ قسمت عظیمی از جوانان را طعمه خود ساخته بود و از طرفی عقائد اروپائی نیز راه حلی را که اسلام برای چنین مواقع پیش بینی کرده، نمی پذیرفت و با قانون تعدد زوجات موافقت نداشت، بهمین جهت زن خواه ناخواه در بی عفتی و آلودگی سقوط می کرد و آبرو و عفت خود را در راه حاجت طعام و حاجت غریزه جنسی و سایر حوائج از دست می داد.

زن بحکم ضرورت در آن راه که برایش تعیین شده بود روان شد! خود را در اختیار مردان شهوتران قرار داد

در کارخانه ها و تجارتخانه ها بخدمت وکار پرداخت و حوائج خود را از این راه تأمین کرد، ولی باز مشکل تازه ای در زندگیش پدید آمد، زیرا کارخانه احتیاج زن را وسیله سوء استفاده قرار داد و همچنان ظلم و بیداد و تعدی را در باره او روا داشت ومقداري از مزدش را کم کرد و باین ترتیب مشکلات زندگی زن همچنان رو بفزونی می رفت و از حد تحمل می گذشت و دیگر چاره ای جز یك انقلاب سخت و رستاخیز بزرگ نبود، انقلابی که قید وبندهای اعصار وقرون را بگسلاند و رستاخیزی که زنجیرهای محکم بردگی دیرینه را پاره کند دیگر برای زن چه باقی مانده بود؟ جان و آبرو، عفت و شرف خودرا که از دست داده بود از احتیاجات طبیعی خود از قبیل خانواده و اولاد که محروم شده بود، از جمال عائله و خانه آباد با رونق که نصیبی نداشت، آیا در برابر اینهمه محرومیت جانداشت که اقلاً از طبیعی ترین و اولی ترین حق خود یعنی حق تساوی دستمزد با مرد استفاده کند؟

البته مرد اروپائی کسی نبود که بآسانی وسادگی از خست و خود خواهی فطری خود باز آید واز منافع و مطامع خود دست بردارد بنا بر این، زن ناچار شد که برای احقاق حق خود وارد میدان مبارزه شود و کلیه سلاحهای موثر را بکار برد.

مبارزه آغاز شد وزنان اعتصاب عمومی اعلام کردند وبعد از آن در مراکز حساس اجتماعی دست بتظاهرات دامنه دار زدند و در مجامع، سخنرانیهای مؤثر ایراد کردند، آنگاه سلاح مهم و مؤثر روز نامه نگاری را مورد استفاده قرار دادند و پس از آن متوجه شدند که برای رهائی از ظلم و بیداد می باید ریشه آنرا برکنند و بهترین راه برای تأمین این منظور آن بود که زنان در مجامع تشریعي و مرکز قانون گذاري شرکت داشته باشند ازینرو در مرحله اول حق رأی دادن را مطالبه کردند وپس از احراز این حق بمطالبه حق نمایندگی برخاسته و پس از آن در مراحل فرهنگي وارد شدند و مانند مردان گواهی نامه های تحصیلی بدست آوردند و دوش بدوش مردان در مشاغل اداری ووظایف دولتی شرکت جستند.

این خلاصه ای از مبارزات زن اروپائی است که برای دست یافتن بحقوق خود انجام داده و بطوریکه ملاحظه می فرمائید، مراحل این مبارزه بعلت وجود علل طبیعی و موجبات اجتماعي مانند دانه های زنجیریکی پس از دیگري بهم پیوسته است وهر یك از این مراحل مانند یك نتیجه منطقي بر مرحله قبل از خود مترتب است و این امور بطور قطعي جریان یافته که رضایت و اراده مرد و حتی اراده زن نیز درآن دخالت نداشته است.

نکته ای که از همه جالبتر است اینست که انگلستان پدر دیموکراسی جهان حتی در عصر حاضر حقوق زنان کارمند را کمتر از حقوق مردان کارمند می پردازد، در صورتیکه زنان آن کشور هم در مجلس عوام چندین نماینده دارند.

اکنون پس از مشاهده دور نمائی از وضع زنان در اروپا و اطلاع اجمالی از تاریخ پر حوادث و مبارزات دامنه دار ایشان در راه احقاق حق خویش، نظری به وضع زن در عالم اسلام می افکنیم تا ببینیم آیا ظروف و مناسبات تاریخی و جغرافیائی و اقتصادی و دینی و تشریعی ما برای زنان مسلمان، مشکله ای بوجود می آورد که مانند زنان غربی نا چار باشند که برای حل وفصل ان بمبارزه بر خیزند، یا تنها شهوت تقلید و بردگی نهانی غربست که مارا از دیدن اشیأ به چشم خویش و از درك حقایق امور باز می دارد و زنان ما را بیجهت وادار بجار و جنجال و غوغا و شغب می کند و بدون موجب وعلت کنگره های زنان و

روزنامه های بانوان را بوجود می آورد؟

یکی از بدیهیات اسلامی که هیچگونه حاجت بتکرار و تذکر ندارد اینست که زن در عرف اسلام، دارای زوح انسانی از همان نوع روح مرد است که قرآنکریم در این باره می فرماید.

«یاایهاالناس اتقوا ربکم الذي خلقکم من نفس واحدة وخلق منها زوجها وبث منهما رجالاً کثیراً ونساء» (ایه اول از سوره نساء).

یعنی الا اي مردم جهان از ان خداي خویش بپرهیزید که شما را ازیك نفس ویك شخص بیافرید و همسرش را نیز از همان نوع بیافرید و مردان و زنان بسیاری را از اندو منتشر سازد.

چنانکه در این آیه مشاهده می شود قرآن کریم برای زن و مرد در اصل ومنشأ و در کیان و شخصیت بشری مساوات کامل قائل شده و بهمین مناسبت همگی حقوق را هم که از این اصل سر چشمه می گیرد میان زن و مرد برابر قرار داده و جان و مال و آبروی زن مانند مرد مصئون و محفوظ داشته و اجازه نداده که کسی او را بزخم زبان بیازارد یا از او غیبت کند یا در اسرار زندگیش کاوش و تجسس کند یا بدون اجازه بخانه اش وارد شود، اینها نمونه اي از حقوق مشترکی است که زن و مرد در آن برابرند و آوامر و تشریعات در این باره عمومی است، قرآنکریم در مقام تصریح باین امر می فرماید: «یا ایها الذین امنوا لا یسخر قوم من قوم عسی أن یکونوا خیراً منهم و لا نساء من نساء عسی أن یکن خیراًمنهن ولا تلمزوا أنفسکم ولا تنابزوا بالألقاب» ای کسانیکه ایمان اورده اید بر حذر باشید که مردانی از شما مردان دیگر را استهزاء نکنند زیرا چه بسا که آنان بهتر از مسخره کنند گان باشند و همچنین زنانی از شما زنان دیگر را استهزاء نکند زیرا چه بسا که آن زنان بهتر از مسخره کنندگان باشد وسخن زننده با یکدیگر مگوئید و لقبهای زشت به یکدیگر مگذارید (سوره حجرات آیه ۱۱).

«ولا تجسسوا و لا یغتب بعضکم بعضاً» و در کارهم تجسس مکنید و بعضي از شما بعضی دیگر را غیبت مکنید (سوره حجرات آیه ۱۱)

«یا أیها الذین آمنوا لا تدخلوا بیوتاً غیر بیوتکم حتی تستانسوا و تسلموا علی أهلها» (ای کسانیکه ایمان آورده اید بخانه ای جز خانه خود وارد نه شوید مگر آنکه از ورود خود اعلام کنید و بر اهل خانه سلام کوئید) (سوره نور آیه ۲۷).

همچنین پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم در این باره می فرماید «کل المسلم علی المسلم حرام، دمه و عرضه و ماله» (مسلم وبخاری) یعنی کلیه حدود حیثیات شخص مسلمان محترم است و برای هیچ شخص مسلمان روانیست که نسبت بجان و آبرو وناموس و خانواده او تجاوز و تعدی کند.

بعلاوه کیفر وپاداش اخروی براي مرد وزن یکسان است و قرآن در این باره می فرماید «فاستجاب لهم ربهم اني لا اضیع عمل عامل منکم من ذکر او انثی بعضکم من بعض» پس پروردگار شان در مقام اجابت دعایشان فرمود: هر آینه من عمل هیچ عامل از شما را چه زن باشد و چه مرد ضایع و بیهوده نمی گذارم.

(سوره آل عمران ایه ۱۹۵).

(ادامه دارد)

تیر پسې

د دين تشريح

کليم الله «متين»

الدين: د سامي ژبو يو پخواني توري «دان» او «دين» دي چه د بدل او مکافاتو په معنا ويلي کيدۀ او بيا څه موده وروسته د قانون په معني هم وويل شو. لکه په عبراني او آرامي ژبو کي ددغه توري څو اشتقاقونه شته. له آرامي ژبي څخه غالباً دغه توري پخوانۍ ايراني ژبي ته هم رسيدلي دي چه په پهلوي ژبه کي «دينيه» د شريعت او قانون مفهوم پيداکړ او په «اوستا» کي دغه توري څو ځايه په همدغه مفهوم ويل شوي دي. د زردشتيانو په پخوانو ادبياتو کي د انشاء او کتابت قاعده او آئين هم د «دين د بيره» په نوم ياد شوي. په دي سربيره د زردشتيانو يو مذهبي کتاب د «دين کارت» په نوم شته دي چه غالباً په نهمه ميلادي پيړۍ کي د عراق يو معبد ترتيب کړي ؤ.

په هرحال په عربي ژبه کي د «الدين» معني بدل او مکافات ده، يعني د مکافاتو او مجازاتو په دواړو معنو ويل کيږي.

دين د مکافاتو او مجازاتو په مفهوم:

قرآن مجيد تل د جزاء او اجر دواړو لپاره د «الدين» عبارت غوره کړي دي ځکه نو قرآن مجيد د قيامت ورځ هم د «يوم الدين» په عبارت سره تعبيروي.

دا تعبير ځکه غوره کړي شوي دي چه د اعمالو د بدلي په باره کي چه قرآن کوم اعتقاد راپيداکول غوښتل، د هغو لپاره تر ټولو غوره همدا تعبير دي او دغه تعبير حقيقي تعبيرهم دي يعني دغه تعبير، مکافات او مجازات د اعمالو نتيجه ګڼي.

د قرآن د نزول په زمانه کي د ډيرو مذهبونو د پيروانوعقيده دا وه چه مکافات او مجازات يوازي د الله تعالي د خوښي او قهر او غضب نتيجه ده، د اعمالو نتيجي پکي مداخله نه لري، د الوهيت او شهنشاهۍ تشابه د ټولو مذهبي تصوررونو په ځير په دغه معامله کي د فکر د ګمراهۍ موجب شوي ؤ، خلکو به ويل، چه يو مطلق العنان پاچا چه خوښ شي نو انعام او اکرام ورکوي او چه لړ غوندي ئي طبعيت ګډوډ شي نو سزاء ورکوي،ځکه به نو خلکو فکر کاوه چه د الله تعالي به هم دغه حال وي، يعني کله خوښ وي او کله ئي مزاج ګډوډ وي او دغه حالتونه د مکافات او مجازات موجب کيږي.

په دي ډول د راز راز قربانيو او فديو او نذرونو اعتقادونه راپيداشوي وو او د بتانو د قهرونو د سړولو لپاره به قربانۍ کيدلي او د هغوي د پام ښه کولو او ځان ته ښه پام کولو لپاره به نذرونه منل کيدل.

د يهودو او عيسائيانو عام تصور دبتانو په باب له راپيداشوي تصور او عقيدي څخه لوړ شوي وه، خو تر کومه ځايه چه ددي تصور تعلق دي، د هغوي تصور او عقيده هم څه دومره مترقي او پرمخ تللي عقيده او تصور نه وه. يهوديانو د ډيرو اللهانو په ځاي د اسرائيلي کورنۍ لپاره يو الله مانه، خو د پخوانو بتانو په ځير د الله هم د مطلق العنانۍ خدائي وه، هغه به کله خوښ ؤه او کله ناخوښ،چه خوښ به ؤه نو دوي به ئي خپل ګران قوم باله او

چه د انتقام په جذبه کي به راغي نو بيائي د دوي په خيال ټول تباهي او بربادي ته سپارل. د عيسايئانو عقيده وه چه د حضرت آدم د يوي کوچني اشتباه له امله د هغه ټول نسل بشر په غضب اخته کړي شو او تر څو چه الله خپل د ابنيت (ځويوالي) صفت د مسيح په شکل ځرگند نه کړ نو د انساني نسل د دغي اشتباه کفاره ممکنه نه وه.

د اعمالواجرا اوجزاء هم دفطرت د نړيوال قانون يوه برخه ده.

قرآن د اعمالو د اجر او جزاء عقيده په يو بل ډول هم ځرگنده کړيده.يعني قرآن داعمالواجر او جزاء دالله کوم داسي فعل نه گڼي چه د کائناتودهستي، د عام نړيوال قانون اودکائناتوله نظم څخه جلادي بلکه د کائناتو دنظم او عالمي قانون يوه طبيعي اوقدرتي برخه ئي گڼي. قرآن وا ئي چه دکائناتو ستر قانون دادي چه هر حالت څه نا څه آغيزه لري او هرشي ځانته خپل خصوصيت لري، داکارممکن نه دي چه يوشي وجود ولري او د آغيزو اونتيجو له کړي او سلسلي څخه د باندي وي،نوځرگنده ده چه څنگه چه الله تعالي په اجسامو او موادو کي خواص او نتيجي ايښودلي دي، هما غسي ئي په اعمالو کي هم خواص اونتيجي ايښودلي دي او څنگه چه د انسان په جسم کي قدرتي انفعالات شته دي، هماغسي د روح لپاره هم قدرتي انفعالات شته. جسماني آغيزي په جسم باندي آغيزه کوي او روح له معنوي آغيزو څخه آغيزمن کيږي. د اعمالو همدغه طبيعي يا قدرتي خواص او نتيجي دي چه د اجرا او جزاء په نوم تعبيريږي. د ښه عمل نتيجه ښه ده اودغه ثواب دي. دبدو او ناوړو اعمالو نتيجه بده ده اودغه عذاب دي. داچه د ثواب اوعذاب ځرنگوالي څه دي؟ نو الهي وحي زمونږ د فهم او استعداد سره سم د هغه نقشه راکيښلي ده، د دغي نقشي ټوټه يا مرقع جنت دي اويا دوزخ.

دجنت انعامونه او خوښي د هغه چا په برخه دي چه د هغوي عملونه نيک او جنتي وي او د دوزخ عذابونه د هغه چا لپاره دي چه اعمال ئي ناوړه او دوزخي دي لکه چه فرمائي:

لايستوي اصحب النار و اصحب الجنة اصحب الجنة هم الفائزون(۵۹: ۲)

يعني، دوزخيان او جنتيان (داعمالو دنتيجوله لحاظه)سره برابر ندي بريالي انسانان هغه دي چه جنتيان وي.

څنگه چه ماديات خواص اونتيجي لري هماغه شان ئي معنويات هم لري:

تاسي وينئ چه فطرت د وجود په هر گوټ کي د مکافاتو يو قانون لري. ممکن نه دي چه په هغه کي بدلون ياسستي راشي فطرت په اور کي دا خاصيت ايښودي دي چه سوزول وکړي، نو سوزول د فطرت او قدرت هغه مکافات شول چه هر څوك يا هر څه چه اور ته وغورزول شي وبه سوزول شي. هر څوك چه د اور لمبو ته لاس وروړي سوزي به. دا نشي کيدي چه څوك به د اور لمبو ته لاس ورنږدي کړي نو د اور ددغه فعل له مکافاتو نه بچ پاتي شي. د اوبو خاصيت يخوالي او لوندوالي دي. يخوالي او لوندوالي هغه مکافات دي چه د قدرت له خوا په اوبو کي ايښودل شوي دي، دا کار ممکن نه دي چه څوك سيند ته ورښکته شي او ددغو مکافاتو څخه بچ پاتي شي، نو هغه قدرت چه د کائناتو د هستي په هر شي کي دغه مکافات او نتيجي ايښودلي دي، نو څنگه به ممکن شي چه هغه د انسان د اعمالو لپاره مکافات او نتيجي ونه ټاکي؟ دغه مکافات يانتائج جزاء او سزاء ده.

اور سوزول کوي، اوبه يخوالي راپيدا کوي،زهر وژل کوئي، شيدي په جسم کي قوت زياتوي، کنين يو دارو دي چه تبه ښکته کوي او غورزوئي، څنگه چه د دغوشيانو په نتيجو

حيرانتيا نه کوئ ځکه چه دغه ستاسي د ژوند يقينيات (يقيني خبري) دي نوداعمالوپه عواقبو اونتايجوولی حيرانتيا ښرگندوئ. افسوس په داسي فيصلو او ستاسي په قضاوت.

تاسي غنم کرئ او ستاسي په زړونوکي ددي خبري هيڅ فکر او تشويش نشته چه له دغو غنمو ښخه به بل څه زرغون شي يعني غنم به نه وي. که څوك درته ووائي چه غنم به نه وي، او دغه کار کيدونکي دي چه ته غنم وکري او د غنمو په ځاي تري بل څه زرغون شي، نو هغه سړي ليوني وبوله. ولي؟ ځکه چه د قدرت او فطرت د مکافاتو قانون ستاسي په طبعيت کي ټينگ ځاي نيولي، ستاسي په وهم او گومان کي هم دا خطر نه راپيداکيږي چه فطرت به له کرل شوؤ غنمو نه جوار رازرغون کړي، يوازي دا نه بلکه تاسي به دا هم ونه منيءچه د غنمو د ښه تخم له کرلو نه به خراب ډول غنم را زرغون شي او په دي موکلك يقين او باور دي او د شك ځاي پکي نشته. نو بيا ووائي چه کوم فطرت او قدرت چه د غنمو ښخه غنم او له جوارو ښخه جوار زرغونوي نو هغه ولي د ښه عمل بده نتيجه او د بد عمل ښه نتيجه ورکوي؟ لکه چه قرآن مجيد فرمائي:

ام حسب الذين اجترحو السيئات ان نجعلهم کالذين امنوا و عملوا الصلحت سوآء محياهم و مماتهم ساء ما يحکمون O و خلق الله السموت والارض بالحق و لتجزي کل نفس بما کسبت وهم لا يظلمون O (الجاثيه ۲۱-۲۲)

يعني. څوك چه بد عملونه کوي آيا هغوي گومان کوي چه د دوي سره به داسي وشي (داسي بدل به ورکړي شي) چه لکه د مؤمنانو او د ښه عمل کونکو سره چه کيږي؟ دواړه به برابر او مساوي وي. په مرگ او ژوند کي (که چيري ددي خلکو دفهم او عقل دغه فيصله او قضاوت وي نو)افسوس دي ددوي په قضاوت او الله تعالي آسمانونه او ځمکه (داسي بي گټي اوبي کاره شيان نه دي پيداکړي)بلکه په حقه او حکمت او مصلحت ئي پيدا کړي دي او ددي لپاره ئي پيداکړي دي چه هريو تن ته د هغه د عمل سره سم بدل ورکړي شي او ظلم پري ونه شي؛ له همدغه امله دي چه قرآن د اجر اوجزاء لپاره د «الدين» عبارت غوره کړي دي، ځکه چه د عمل د مکافاتو او مجازاتو د مفهوم اداء کولولپاره دغه عبارت تر ټولو ښه اوسم او موزون عبارت دي.

په قرآني اصطلاح کي د"کسب"مفهوم:

مونږ وينو چه قرآن دښه يابد عمل په ځاي په زيا ترو ځا يو کي د «کسب» عبارت پکار کړيدي. په عربي ژبه کي د «کسب» معنی هماغه معنی ده چه په پښتو، دري او اردو ژبو کي پکاروړل شوي اومفهوم ئي کارکول يا داسی کار کول چه انسان ئي له کولو ښخه دنتيجي هيله-من وي، که څه هم گټه وي يا زيان، ځکه چه له کسب ښخه نه يوازي دښي گټي اميد کيدي شي او نه يوازي د ز-يان بلکه يو عمل دي چه نتيجه ئي تر سر ته رسولو وروسته څرگنديږي.

نومطلب دا شو چه د انسان لپاره اجر او جزاء يا ثواب او عذاب دواړه دده د خپل عمل نتيجه ده څه ئي چه کرلي وي هغه به ريبي: لکه چه قرآن فرمائي:

«کل امرئ بما کسب رهين»(۵۲-۲۱) يعني «هرانسان دهغه د عمل د نتيجي سره گانه يا تړلي دي» بل ځاي فرمائي چه:

«لهاما کسبت و عليهاماااکتسبت» (۲: ۲۸۶) يعني، د هر انسان لپاره هغه څه دي چه کارئي کړيدي ياگټلي ئي دي او د څه لپاره چه ځواب ورکوي هغه هم دده خپله گټه يا خپل عمل دي»همد غه شان د نورو امتونو او قامونو په باب هم فرمائي چه «تلك امة قد خلت لهاماکسبت ولکم ماکسبتم ولا

تسئلون عما كانوا يعملون»
يعني «هغه يو امت ؤ چه تيرشو. دهغه لپاره هغه نتيجه ده چه گټلي ئي ده او ستاسي لپاره هغه نتيجه ده چه وئي گټيږ» په دي سربيره په ډيرو ځرگندو عبارتو کي داخبره ځرگنده شوي چه «دين» دښوکارونو او نيکو عملونو سرته رسولو ترغيب او تشويق ورکوي او له بدو اعمالو څخه انسان منع کوي او راگرځوي ئي، نو دغه کار يوازي ددي لپاره دي چه انسان د زيان، تاوان او هلاکت او بربادي څخه بچ شي او دنيکمرغي او د سعادت اوښو ورځو اوگټورو نتيجو خواته ورشي او نيکمرغي ئي په برخه شي. ددي لپاره نه چه دالله تعالي قهر اوغضب ورته عذاب ورکول غواړي نودي بايد له هغه نه دځان ساتني او نجات لپاره دمذهبي عبادتونو او رياضتونو په وسيله ځان خلاص کړي. لکه چه قرآن فرمائي: من عمل صالحا فلنفسه ومن اسآء فعليها ومازبك بظلام للعبيد (٤١-٤٦)
يعني: هرچا چه نيك او ښه کار وکړ نو دخپل ځان لپاره ئي وکړ. او داسي هيڅکله نه ده چه ستاسي پروردگار په خپلو بندگانو باندي ظلم کوي.» په مسلم شريف کي دابوذر رضي الله عنه په روايت سره په يو قدسي حديث کي دي حقيقت ته داسي اشاره شوي ده، فرمائي: « ياعبادي، لو أن اولكم وآخركم و إنسكم وجنكم كانوا على تقي قلب رجل واحد منكم، ما زاد في ملكي شيئا ، ياعبادي، لو أن اولكم، و آخركم وإنسكم وجنكم كانوا على فجر قلب رجل واحد منكم، مانقص ذلك من ملكي شيئا، يا عبادي! لو أن اولكم وآخركم و إنسكم و جنكم قاموا في صعيد واحد فسألون فاعطيت كل انسان ماسئلته، مانقص ذلك مماعندي إلا كما ينص المخيط اذا ادخل البحر، يا عبادي إنما هي أعمالكم احصيها لكم ثم اوفيكم اياها فمن وجد خيراً فليحمد الله و من وجد غير ذلك فلا يلومنّ إلا نفسه .(مسلم عن ابوذر رضي الله عنه)
يعني: اي زما بندگانو! که چيري ستاسي ټول انسانان چه پخوا تير شوي دي او ټول چه وروسته به پيداکيږي او ټول انسانان او ټول پيريان د هغه چا په څير نيکان شي چه په تاسي کي تر ټولو زيات پرهيزگار او متقي دي نو ياد ولرئ چه له دغه امله به زما په خدائی کي هيڅ هم زيات نه شي. اي زما بندگانو! که چيري هغه ټول انسانان چه پخوا تير شوي دي او ټول هغه چه وروسته به پيداشي، او ټول انسانان او پيريان د هغه چا غوندي بدکاره او بد عمله شي چه په تاسي کي تر ټولو زيات بدکاره او بد عمله دي نو له دغه امله به هم زما په خدائي کي هيڅ تاوان رانشي، اي زما بندگانو! که چيري ټول هغه انسانان چه پخوا تير شوي دي او ټول هغه چه وروسته به پيدا شي او ټول انسانان او ټول پيريان په يو ځاي راغونډ شي او زما څخه غوښتنه وکړي او زه هر يو تن ته د هغه غوښتلي شي ورکړم زما په رحمت او د بخښنو په خزانو کي به دومره کمي هم رانشي لکه چه د ستني په سوم کي د سمندر اوبه ووځي. اي زما بنديانو! ياد لرئ چه دا ستاسي خپل اعمال دي چه هغه ستاسي لپاره په انضباط او نگرانئ کي ساتم او بيا د هغو نتيجي بي له کمي زياتي تاسي ته بيرته درکوم، نو څوك چه په تاسي کي نيکي ووېني بايد چه د الله حمد او ثنا وکړي او د چا څخه چه څه بد کار وشي نو بايد له خپله ځانه پرته بل څوك ملامته نه کاندي»
دلته د چا په زړه کي بايد دا شك او اشتباه رانشي چه پخپله قرآن ځاي په ځاي د الله تعالي د خوښي او رضاء او نارضائي يادونه کوي. بي شکه چه همدغه شان ده خو دومره نه بلکه هغه دانسان دنيکو او ښو کارونو لوړه او ښه درجه داتاکي چه څوك څه کوي نو يوازي ئي بايد د الله تعالي د رضاء لپاره وکړي، خودالله تعالي د

رضاء او خوښي او قهر او غضب کومه یادونه چه هغه کوي او هغه چه داجر او جزاء یاد خوښي او غضب کوم اثبات کوي هغه د اجر او جزاء علت نه دي بلکه داجر او جزاء قدرتي نتیجه ده، یعنې داسي نه وائي چه اجر او جزاء یوازي دالله تعالي دخوښي او نا خوښي نتیجه ده، دنیکو او بدو اعمالو نتیجه نه ده، بلکه وائي چه جزاء او اجر ټول دانسان داعمالو نتیجه ده او الله تعالي په نیك عمل خوښیري او په بد عمل باندي نارضاء کیږي. نو څرګنده شوه چه دغه تعلیم د پخوانو اعتقادونو سره نه یوازي مختلف بلکه بیخي تضاد هم دي.په هر حال، داجر او جزاء حقیقت د پوره څرګندولو لپاره د «الدین» ټکي بنه په ځاي او ورسره سم دي او د هغو ټولو ګمراهیو لاره نیسي چه په دغه لړکي خپري شوي دي او په قرآن مجیدکي د فاتحه په سورة کي د «ملك یوم الدین» عبارتونو د اجر او سزاء اصلي حقیقت او واقعیت څرګندکړ.

الدین د مذهب په مفهوم:

د«الدین» ټکي دمذهب او قانون دپاره هم پکار وړل شوي دي، ځکه چه دمذهب اساسي اعتقاد د عمل دښي او بدي نتیجي یا مکافات عمل په بنسټ ولاړ دي او دقانون بنسټ هم په تعزیر او سیاست باندي ولاړ دي. دیوسف په سورة کي چه کومه واقعه بیان شوي چه حضرت یوسف علیه السلام خپل کوچني ورور له ځان سره پاتي کړي ؤ هلته فرمائي چه:

ماکان لیأ خذ اخاه في دین الملك الا ان یشاء الله (۷۶:۱۲) په دي ځاي کي د«دین الملك» څخه مقصد دمصر د پاچا دین دي منظور تري دپاچا دسلطنت قانون دي.

په «ملك یوم الدین» کی د الهي عدالت اعلامیه:

یعني په فاتحة القرآن کی (الحمد شریف) کی د الله جل جلاله د ربوبیت او رحمت له صفاتو نه وروسته دقهر او جلال د کوم صفت یادونه نه ده شوی بلکه د «ملك یوم الدین» صفت بیان شوی دی چه الهي عدالت تر ی تصوریږی او زمونږ په ذهن کی ځای نیسی نو څرګنده شوه چه قرآن د الله جل جلاله د صفاتو په لړ کی کوم تصور قائم کړی دی په هغه کی د قهر او غضب لپاره ځای نشته البته د عدالت لپاره هرومرو شته دی او قهریه صفات چه څومره بیان شوي دی په حقیقت کی ددغه صفت څرګندوی دی.

په حقیقت کی د الهي صفاتو د تصور ځای همدا دی چه دلته انسانی فکر د تل لپاره تیندکونه خوړلی دی.دا خبره څرګنده ده چه د کائناتو فطرت د ربوبیت او رحمت سره سره مجازات هم د ځان سره لری او چه له یوی خوا پرورش ، پالنه او بخشش لری نو بلی خوا ته مواخذه او جزاء هم شته دی د بشری مفکوری لپاره یوه فیصله غوښوتونکی پوښتنه دا هم وه چه د فطرت مجازات د هغه د قهر او غضب نتیجه ده که د عدل او انصاف؟ خو د هغه د نارسا فکر دا حقیقت معلوم نه کړی شو، هغه مجازات په قهر او غضب ور واړول او له دغه امله د الله جل جلاله په صفاتو کی د ویری او دهشت تصور را پیدا شو، په داسي حال کی چه که د انسان فکر د کائنات فطرت ته ځیر شوی وای نو ورته څرګنده شوی به وای چه کوم مظاهر او پدیدی یا ښکارندوی چه هغه قهر او غضب خوا ته اړوی هغه د قهر نتیجه نه بلکه د رحمت مقتضاګاني دی. که چیری د کائناتو په فطرت کی مواخذه نه وائي یاد تعمیر، تحسین او تکمیل لپاره یو تخریب نه وای نو د عدالت تله به دریدلي نه وی پاتي او د ژوند ټول نظم به ګډوډ شوي وائ.

رهبانیت

د رهبانیت کلمه د رهب نه اخستل شوی چه معنی ئی ویره او خوف دی او درهبانیت څخه مطلب د ویروونکو مسلك دی چه په اصطلاح کی ددی مطلب دادی ، چه یو سړی دویری په وجه (غیر له دی چه د هغه سره د چا دظلم ویره وی یا د دنیا دفسادونو ویره، یا د خپل نفس د کمزوریو ویره وی) د دنیاوی چارو نه لاس واخلی او په ځنګلونو او غرونو کی ژوند اختیار کړی او یا دا چه د کونج ناسته غوره کړی.

درهبانیت لومړنی جراثیم:

د حضرت عیسی (علیه السلام) نه وروسته تر دوه سوه کاله پوری عیسائی کلیسا د رهبانیت سره نا آشنا وه، خو البته له هماغو لومړنیو وختونو څخه په مسیحیت کی د رهبانیت جراثیم پراته وو او داسی نظریه په مسیحیت کی موجوده وه چه د رهبانیت د پیدایښت عامل ګڼل کیدهٔ.

ترك او تجرید ته اخلاقی ایډیال ورکول او د واده او کورنی ژوند په مقابل کی د فقیری ژوند تیرولو ته ترجیح ورکول او دګوشه نشینی ژوند اعلی او افضل ګڼل د رهبانیت بنسټ دی او دغه دوه شیان په مسیحیت کی د لومړی وخت څخه موجود وو. په ځانګړی توګه له تجرد څخه د تقدس د مفهوم اخستلو په وجه په کلیسا کی دمذهبی خادمانو لپاره دا خبره بده انګیرله کیدله چه هغوی واده ولری او په کورنیو جنجالونو اخته شی، تر دریمی پیړۍ پوری ددغه تصور رارسیدو رارسیدو د یو فساد او فتنی شکل اختیار کړ او رهبانیت د یوی وبا په ډول په مسیحیت کی خپور شو، په تاریخی لحاظ دغه کار دری ستر علتونه درلودل:

لمړنی علت: یو دا چه په پخوانی مشرکه ټولنه کی چه شهوانیت ، بدعملی او دنیا پرستی په څومره شدت سره مخ په وړاندی روانه وه، ددی کارونو د مخ نیوی لپاره عیسائی علماؤ د اعتدال او میانه روئ په ځای افراطی لاره غوره کړه، هغوی په حیاء او عفت باندی دومره اصرار وکړ، چه

د نکاح په ګډون د ښځو او سړو ترمینځ ټولی اړیکی پکی پخپله ناپاکی وګڼل شوی او د دنیا پرستۍ په خلاف ئی له دومره شدت څخه کار واخیست چه دیو دیندار سړی لپاره هر قسم دارائی ئی ګناه ګڼله او د اخلاقو معیار ئی دا وټاکه چه سړی باید بلکل مفلس او له هر لحاظه تارك الدنیا شی.

پدی ډول د مشرکی ټولنی د لذت پرستۍ په ځواب کې هغوی داسی افراطی مرحلی ته ورسیدل چه د لذت پرېښودلو په مقابل کی د نفس وژل او د خواهشاتو بیخی له مینځه وړل د اخلاقو هدف وګڼل شو او په ډول ډول ریاضتونو سره جسم ته تکلیف ورکول، د انسان د روحانیت کمال او د هغه د روحانیت د عملی ثبوت معیار وګڼل شو.

دوهم علت:

دوهم دا چه کله چه مسیحیت د کامیابۍ مرحلی ته په داخلیدو سره په خلکو کی خپریده نو کلیسا د خدمت د پراختیا او اشاعت لپاره هر هغه بد او ناوړه عمل چه په خلکو کی ئی مقبولیت او محبوبیت درلود پخپله مذهبی دایره کی را ننه ویست، او-لیاء پرستی د پخوانیو معبودانو ځای ونیو، د (هورس) Horus او (اسس) isis د مجسمو په ځای د مسیح او مریم د بتانو پرستش پیل شو او دسیترنیلیا په ځای د کرسمس جشن جوړشو.

د پخوانی زمانی تعویذ، عملیات، فالونه کتل او غیب ګوئی، د پیریانو او دیوانو زغلول، دا ټول عیسوی ملنګانو شروع کړل، پدی ډول څنګه چه عامو خلکو داسی سړی خداي ته نژدی باله چه چټل، کثیف او لغړ په کومه سمڅ یا غار کي ژوند وکړي، نو په همدي وجه په عیسایي کلیسا کي د ولایت دپاره دغه تصور او معیار خوښ کړي شو او دهمدغه شان خلکو د کراماتو له قیصو څخه د عیسویانو تذکرة الأولیاء پشان کتابونه ډك شول .

دریم علت:

دریم علت دا ؤ چه د عیسائیانو سره ددین د پولو د ټاکلو لپاره کوم مفصل شریعت او ښکاره قانون او سنت موجود نه ؤ، موسوي شریعت خو هغوي پرېښودي ؤ او یوازي په انجیل کي کومه هدایت نامه موجوده نه وه ، پدي وجه مسیحي علماء دځینو بهرنیو فلسفو او طریقو ترتاثیر لاندي راغلل، او هم یي ځیني بدعتونه د خپلو شخصي رجحاناتو په بناء په دین کي داخل کړل چه رهبانیت هم یو ددغو بدعتونو څخه دي .

د رهبانیت مسیحي فلسفه:

مسیحي علماؤ او امامانو دا فلسفه او د هغې طریقه د بت مذهب او د هندي جوګیانو او دسینا سیویانو او د لرغوني مصري فقیرانو، ایراني مانویانو او د افلاطون او فلاطینوس د پیرانو څخه واخسته او هغه یي دنفس د تزکیې او روحاني ترقي ذریعه او خداي ته دنزدي کیدو غوره لاره وګڼله، ددي غلطي مرتکب څه واړه او معمولی خلك نه وو، بلکه ددریمي پیړۍ نه تر اوومی عیسوی پیړۍ یعنی دقرآنکریم د نزول تر زمانی پورې هغه خلك چه په مشرق او مغرب کی لوی لوی عیسوي علماء، پیشوایان او امامان وو لکه دسینت اتانا سیوس، سینت باسل، سینت ګریګوری او داسی نور د هغه وخت لوی لوی راهبان او درهبانیت علمبرداران وو چه دهغوی د کوششونو په نتیجه کی په کلیسا کی رهبانیت رایج شو.

د تاریخ نه معلومه شویده چه په عیسائیانو کی رهبانیت د مصر نه

راغلی دی، چه مؤسس ئی د سینت انتوني st.Anthony ؤ چه په ۲۵۰میلادي کال کی پیدا شوی او په ۳۵۰میلادي کال کی ئی له نړی نه سترګی پټی کړی، دغه سړی لومړنی راهب پیژندل کیږی، هغه د فیوم د سیمی په «پسپیر» نومی ځای کی چه اوس د«برالیمون» په نوم یادیږی) لومړنی-خانقاه جوړه کړه، د هغی نه وروسته هغه دوهمه خانقاه د سری بحیری په ساحل کی جوړه کړه چه اوس هغه ته د «دیر مارا نطوتیوس» وائي. په عیسائیت کی د رهبانیت قواعد او اصول دهغه د لیکنو او هدایاتو څخه اخستل شویدی.

دغه نظریه د پیل نه وروسته په مصر کی د یو سیلاب پشان خپره شوه او ځای په ځای د راهبانو او راهباتو لپاره خانقاوی جوړي شوی چه په هغوی کی په ځینو کی دری دري زره راهبان په یوه وخت کی اوسیدلی شو. په ۳۲۵ میلادي کال کی د مصر په خاوره کی یو بل مسیحی ولی «پاخوهیوس» را ښکاره شو چه هغه لس لوئي خانقاوی د راهبانو او راهباتو لپاره جوړی کړی، ددی څخه وروسته دا سلسله اردن، فلسطین او د افریقا او اروپا بیلابیلو هیوادونو ته خپره شوه، کلیسائی نظام په لومړیو وختو کی د رهبانیت په مسئله باندی له سخت جنجال سره مخامخ شو، ځکه چه دنیا پریښودل، تجرد، غریبي او مفلسی خو هغوی د روحانی ژوند ایډیال منلی ؤ، خو د راهبانو په خلاف ئی واده کول، اولاد پیدا کول او ملکیت درلودل ګناه نه ګڼله، بالآخره «سنیت اتانا سیوس» او «سینت هاسل» او دداسی نورو ډیرو عیسوی علماؤ د نفوذ په وجه د رهبانیت دري قواعد د کلیسا په نظام کي په اساسي ډول شامل شول.

دعیسوی رهبانیت دځانګړنو څو بیلګي:

دلته به مونږ ددغه راهبانه بدعت څو خصوصیات په لنډ ډول وړاندی کړو:

جسمانی آذیت خوښول: سخت ریاضتونه او په نویو نویو طریقو سره خپل وجود ته د تکلیف رسولو په ترڅ کی هر راهب کوشش کاوه چه دبل څخه وړاندی شي، د عیسائی اولیاؤ په تذکرو کی چه د هغه خلکو کوم کمالات بیان شویدی هغه یو څه په لاندی ډول دی:

د سکندرئی «سینت مکاریوس» په خپل ځان (۸۰) پونډه وزن اوچتول فرض کړی وو. دی به (٦) میاشتي په اړوبه ځمکه (اوبلنه ختړه) کی ویده کیدهٔ او په زهریه مچانو به ئی خپل ځان چیچه، د هغه مرید «سینت یوریبیوس» د خپل پیرنه په عبادت کی وړاندی روان ؤ، هغه د (۱۵۰) پونډه وزن اوچتول پخپل ځان باندی ایښی ؤ او تر دری کالو پوری په یوه وچه څاه کی پروت ؤ.

سینت بیساریون (٤٠) ورځی په اغزنو بوټوکی پروت ؤ او تر (٤٠) ورځو ئی شا ځمکی ته ورنه کړه، «سینت پاخموس» (۱۵) کاله او د یو بل روایت له مخی (۵۰) کاله شا په ځمکه باندی ونه لګوله، یو بل راهب (۳) کاله په عبادت باندی ولاړ ؤ، پدغه ټول وخت کی هغه نه کیناسته، نه پریووت، د آرام په وخت کی به ئی لړ شان ډډه وهله، خواړه ئی یوازی هغه تبرك ؤ چه د هری یکشنبي په ورځ د هغه لپاره راوړل کیدل، سینت استایلات (۳۹۰-٤٤٩) چه د لویو عیسائی اولیاؤ په ډله کی شمیرل کیده، څلویښت څلویښت ورځی به ئی فاقه کوله، کله به زیات وخت په یوه

پښه ودریده، څه وخت به له خپلی خانقاه څخه ووت او په ځاه کی به پریووت، وروسته ئی د شمالی اردن په قلعه سیمان کی د (۶۰) فتو په لوړوالی یوه ستن جوړه کړه، د هغی په سر ئی کټاره جوړه کړه او پخپله ورباندی کیناست، دیرش کاله ئی هلته تیر کړل، سوزوونکی لمر، په شیبو شیبو کی بارانونو، یخنئ او گرمئ د هغه په عزم کی خنډ نه شول اونه ئی هغه له کټاری راښکته کړی شو، یو مرید به ئی په پوړیو ورخوت، هغه ته به ئی ډوډی وروړله او د هغه گندگی به ئی پاکوله، ځان ئي په پړی تړلی ؤ، تر دی چه پړی ئی بدن ته پریوتی ؤ غوښی ئی ورته خوړلی وی او چینجي پکی پیدا شوی وو، که کوم چینجي به ئی له ټپ څخه را بهر شو، بیا به ئی په ټپ کی ور دننه کړ او ورته به ئی ویل: وخوره هغه څه چه الله تاته در کړیدی .

· مسیحیان به له لیرو لیرو ځایو څخه ددغه سړی لپاره راتلل کله چه مړ شو، نو خلکو فیصله وکړه چه هغه د عیسائی ولیانو ډیر ښه مثال دي.

د هغه وخت عیسوی اولیاؤ کومی کارنامی چه بیان شویدی، ټولی دداسی مثالونو څخه ډکی دی. د یو ولی تعریف دا ؤ چه (۳۰) کاله ئی خبری ندی کړی او هیچا هغه په خبرو ندی لیدلی، ځینو ولیانو خپل ځانونه په لویو لویو گټانو پوری تړلی وو، څه په ځاه گانو کی اوسیدل، څوك په غرونو کی سرگردان وو او واښه ئی خوړل، چا درانه وزنونه په ځان بار کړی او گرځیدل، څوك د ځناورو په غارونو، وچو ځاه گانو او ځینو به ځانونه په ځنځیرونو تړلی او درانه طوقونه به ئی په غاړو کی اچولی وو، ځینی اولیاء به هر وخت لوڅ لغړ گرځیدل او خپل سترونه به ئی په اوږدو ویښتانو پټ کړی وو، ددغسی اولیاؤ د کراماتو کیسی د هر چا په خوله وی، د مرگ نه وروسته به د هغوی هډوکی په خانقاؤ کی ساتل کیدل، په خانقاگانو کی ددوی د هډوکو لپاره ځانگړی کتاب خانی دی چه اوس هم په هغو کی ددغو اولیاؤ، کوپړۍ، د پښو هډوکی، دلاسونو هډوکی، او د ځینو د بدنونو پوره اسکلیټونه د شیشی په الماری کی پراته دی، ددغو هډوکو د ساتلو لپاره د سینا د غره نه لاندې د سینت کیسترانی خانقاه تر ټولو مشهوره ده.

له پاکئ او نظافت نه پرهیز:

د هغوی دوهم خصوصیت دا ؤ چه هغوی به هر وخت ناپاکه اوسیدل او د پاکۍ او نظافت څخه به ئی سخت پرهیزکاوه، غسل کول او یا د بدن په کومه برخه باندی اوبه اچول د هغوی په نزد د خدا پرستی ضد کار ؤ، هغوی د وجود پاکوالی د روح ناپاکی گڼله «سنت انتاناي» په زیات عقیدت سره د «سینت اینتنی» د ښو کار نامو په لړ کی یوه دا بیانوله چه هغه تر مرگه پوری خپلی پښی پری نه مینځلی، «سینت ابراهام» له هغه وخته چه مسیحیت ته داخل شوی ؤ، پوره (۵۰) کاله ئی نه مخ پریولی ؤ او نه پښی، د (۱۳۰) راهبانو په تعریف کی لیکل شویدی چه هغوی هیڅکله خپلی پښی نه وی مینځلی او د غسل د نوم په اوریدو سره به ئی په بدنونو لړزه گډیدله.

د واده او کورنی ژوند نه ځان ساتل:

دغه رهبانیت نکاح او کورنی ژوند عملاً حرام کړی ؤ، او د نکاح د مزو په پړی کولو کي ئی له سختی بی دردۍ څخه کار اخستی ؤ، د څلورمی او پنځمی پیړۍ پوری ټولی لیکنی

ددی نظریې څخه ډکی دی چه تجرد تر ټولو لوی اخلاقی معیار دی او د عفت معنی داده چه سړی له جنسی ارتباطاتو څخه په پوره ډول ځان وساتی، که څه هم هغه د ښځی او میړه د اړیکو په نوم وی.

د روحانی پاك ژوند معیار ئی دا گاڼه چه سړی باید خپل نفس بلکل مړ کړی او په هغه کی د جسمانی لذت هیڅ آثار پری نه ږدی، ددی خلکو په عقیده د خواهشاتو وژل ځکه ضروری وو چه دخواهشاتو په وجه حیوانیت پیاوړی کیږی، د هغوی په عقیده لذت او گناه دواړه یو برابر ؤ، حتی خوشحالی هم د هغوی په نظر د الله د هیریدو سره مترادفه وه او سینت باسل خو لا خندا او موسکا هم منع کړی وه، د همدی تصوراتو په بناء دهغوی په عقیده د ښځی او سړی تر مینځ د واده اړیکی یو نجس عمل گڼل کیده، د راهب لپاره ضروری وه چه واده خو لا پریږده چه د ښځی مخ ته هم ونه گوری او که واده ئی کړی وی نو ښځه دی پریږدی او له کوره دی ووځی، د سړو پشان ئی د ښځو په زړه کی هم دا خبره کوټلی کړی وه چه که غواړی په آسمانی بادشاهت کی داخل شی نو د تل لپاره باید تجرد د ژوند غوره کړی او که واده ئی کړی وی نو د خاوندانو څخه باید جلا شی، د «سینت جیروم» په شان یو ممتاز مسیحی عالم وائی « کومه ښځه چه د مسیح لپاره راهبه شی او ټول عمر پیغله پاتی شی د مسیح ناوی به وي او ددغه ښځی مورته دخدای یعنی د مسیح د خواښی ویاړ په برخه دی، ددی تعلیماتو په وجه په عیسائی سړی او ښځې باندی د مذهبی جوش د راتلو لومړنیاغیزه داده چه د ښځی او خاوند تر مینځ د مینی ډك كورنی ژوند د تل لپاره پاي ته ورسیږی او څنگه چه په مسیحیت کی د طلاق لاره تړلی وه، نو ښځه او خاوند د نکاح سره سره له یو بل څخه جلا اوسیدل.

«سینت نائلس» ددوه ماشومانو پلار ؤ، خو چه کله وربانديې رهبانیت غلبه وکړه نو ښځی ئي په سرو سترگو ژړل خو هغه تری جدا شو.

«سینت امون» د واده په لومړۍ شپه خپلی ناوی ته د کورنی ژوند د نجاست په باب وعظ وکړ او دواړو په اتفاق سره فیصله وکړه چه په ټول ژوند کی د یو بل څخه جدا واوسی او یو بل راهب «سینت ابراهام» د خپل واده په لومړۍ شپه خپله ښځه پریښوده او وتښتید.

دداسی واقعاتو څخه د عیسائي اولیاؤ تذکری ډکی دي.

د کلیسا نظام تر دریو پیړیو پوری دخپلو حدودو په چوکاټ کی ددغو افراط خوښونکو تصوراتو په خلاف په یوه نه یوه بڼه مقابله وکړه، په هغه وخت کی د پادری لپاره د تجرد ژوند ضروری نه ؤ. که هغه د پادري مقام ته د رسیدو څخه مخکی ښځه کړی وه، نو کولی ئی شول چه دښځی سره یو ځای ژوند وکړی، خو دغه مقام ته د رسیدو وروسته ورته د واده کولو اجازه نه وه او هم به ئی داسی سړی پادری نه ټاکه چه هغه به د کومی کونډی یا طلاقه شوی ښځی سره واده کړی ؤ. ددوه ښځو څښتن به هم دی مقام ته نه شو رسیدلی، خو په څلورمی پیړۍکی ورو ورو دې خبری زور واخسته چه هغه څوك چه په کلیسا کی د پادري مقام ته رسی، باید چه ښځه ونه لری او ښځه درلودل ورته بد کار دی، په ۳۶۲ میلادي کال کی دگنگرا شورا وروستۍغونډه جوړه شوه او دغه ډول تصورات پکی د

مذهب په خلاف وګڼل شول، خو لږه موده وروسته «رومن سیناد» ټولو پادریانو ته مشوره ورکړه چه هغوی دې د کورنی ژوند څخه لاس واخلی، پوپ «سرائرکس» حکم جاری کړ کوم پادریان چه واده وکړی او یا دواده نه وروسته له خپلي ماندینی سره یو ځای اوسیږی له مذهبی منصب څخه به وغورزول شی. یوشمیر لویو علماؤ ددغي فیصلی ملا تړ وکړ، د لږ شان مزاحمت نه وروسته دغه حکم په مغربي کلیساؤ کی په پوره زور او قوت سره نافذ شو پدغه وخت کی زیات شمیر محکمی د خلکو ددی شکایت د رفع کولو لپاره جوړی شوي چه ویل ئی هغه کسان چه پخوا ئی ودونه کړیوو، د مذهبی منصبونو د اشغال نه وروسته بیا هم د خپلو ماندینو سره «ناجایزي» اړیکی ټینګوی، ددغو خلکو د اصلاح لپاره ځینی اصول وټاکل شول او فیصله وشوه چه دغه خلك دی په بیدیا ځایو کی ویده کیږی، له خپلو ماندینو سره ځانګړی ملاقات نشی کولی او د ښځی او خاوند د کتنی په وخت کی باید لږ ترلږه دوه کسان نور هم ناست وی، سینت ګریګوری د یو پادري په ستاینه کی لیکی چه هغه څلویښت کاله د خپلی ماندینی څخه جلا واوسیده، ترڅو چه د مرګ په وخت کی ئی ماندینه ورته نژدی راغله نو ده ورته ووي: آپلو شه!

دخپلوی او رحم پریکړه:

ددغه رهبانیت ترټولو ناوړه او زړه دردوونکی باب دادی چه د انسان سره د هغه د مور، پلار، وررونو خویندو او اولاد د قرابت مزی شلوی.

د مسیحی ولیانو په نظر د زوی لپاره د مور محبت، د وررور لپاره د وررونو خویندو سره مینه او د پلار لپاره د اولاد سره مینه هم ګناه ګڼل کیده، د هغوی عقیده دا وه چه د روحانی ترقی لپاره پکار داده چه انسان باید د خپلوی او رحم ټولی اړیکی پریکړی، د مسیحی اولیاؤ په تذکرو کی داسی بی شمیره زړه-دردوونکی واقعات شته چه انسان ئی د لوستلو توان او تحمل قدری هم نه لری، دایوا ګریوس په نوم یو راهب چه په کلونو کلونو یی په دشتو او بیابانونو کی عبادت کاوه، یوه ورځ ورته د مور او پلار خطونه ورسیدل چه کلونه کلونه د هغه د جلائی په اور کی سوزیدل، خو دې پادري پدې وجه چه ددی خطونو د لوستلو په وجه به ئی په زړه کی د انسانی مینی جذبه راپاریږی نو لیکونه ئی بیله لوستولو اورته غوزار کړل، د یو بل راهب مور او خور د زیاتو سفارشي لیکونو سره خانقاه ته ورغله او د هغه د لیدلو هیله ئی ځرګنده کړه، خو هغه د خپلی مور او خور سره د لیدلو څخه انکار وکړو.

مګر د ټولونه دردناکه قصه د «سینت سمیون ستلائتس» ده، نوموړی مور او پلار پریښودل او (۲۷) کاله ورك ؤ، پلار ئی د هغه دغمه مړ شو او مور ئی ژوندۍ وه چه د ځوی د ولایتِ قیصی ئی دلیری او نژدی پوری خپری شوی، څه وخت چه د هغه مور ته د زوی د اوسیدو ځای معلوم شو، هغه غریبه د زوی د لیدلو لپاره هغه ځای ته ورغله نو معلومه شوه چه هغه ځای ته د ښځو ورتلل منع دی، هغی ډیره زاری او سوالونه وکړل چه زویه! یا ته بهر راووځه چه دې ووینم او یا ما دننه وغواړه! مګر هغه ولی صاف انکار وکړو، دری ورځی او دري شپی هغه غریبه د خانقاه په دروازه کی پرته وه او چه بالآخره ئی هم هغلته ساه ورکړه نو ولی صاحب د خانقاه نه راووت، دمور په بی روحه بدن ئی اوښکی و څڅولی او د مغفرت دعائی ورته وکړه.

مسلمانها در یوگوسلاویا تا به کجا؟!

نظری به طرف حوادث یوگوسلاویا

مکتوب: خالد تولیقبتش البوسنوی ترجمه: مولوی عبدالحلیم شفیق

وقتیکه قبائل سلافیه وسقالبه (SLAY) در منطقه بلقان، وهمچنان البان به دین مسیحیت منقاد گردانیده شدند به دو گروه تقسیم گردیدند (کاتولیك وارتو دکس) پیروان کاتولیك به این عقیده بودند و اصرار هم داشتند که مرکز دولت مسیحی روما است، و ساندو بابأ نیز بهمین عقیده بود، أما پیروان ارتودکس کما في السابق به مرکزیت کونستانتینوپولیس باقي ماندند، ووقتیکه بتوسط حکومت اسلامي سقوط کردند بدون مرکز باقی ماندند، تا وقتیکه روسها اشغال کردند و مراکز ارتوذکسیها را از بین بردند.

حقیقت در گیری در یوگوسلاویا:

اصل اختلافات ودر گیریها در بین اتباعو قبائل سلاویه شرقیه به ارتباط کنیسه ارتودکس وبین اتباع قبائل سلاویه غربیه به ارتباط کنیسه کاتولیکی خلاصه میگردد، و در منطقه وسطی که بنام بوسنیه مسمی است و مرکز اختلافات بین کاتولیك و ارتودکس میباشد، درین منطقه یك گروه مسیحیها بطور مستقل بروز کردند که به کنیسه بوسنوی مُسمی بود، و از تقدیس بشریت وعبادة صلیب و از اکثر عقائد مسیحیت مثل تعمیر و تثلیث ابأ میورزیدند، و به الوهیت مسیح نیز اعتراف نمی کردند، این فرقه تا آمدن لشکر اسلامی که تحت قیادة محمد الفاتح در سنه ۱٤٦۳ میلادی صورت گرفت تحت تأثیر این دو کنیسهای مذکور بود، که بعد از ورود لشکر اسلامی دین اسلام را به رضأ ورغبت خویش قبول کردند، و از بزرگان سر لشکرهای اسلامي به شمار میرفتند و محافظین سنگرهای دولت اسلامی بودند، وقتیکه در البانیا اسلام داخل شد- اکثریت ارتودکسها تحت حکومت اسلامی قرار گرفتند، جز کسانیکه به کرواتیا به اصطلاح مهاجر شدند، و این ارتودکسیها که ۱۲٪ مجموع ساکنین کرواتیا را تشکیل میدهند اینها اند که سبب نزاع در بین ارتودکس صربیا و کاتولیکي واقع گردیده اند، پس حکومت جمهوری ارتودکسی صرب با وصفش حمایت از ارتودکسیهائی کرواتیا می کند و میخواهد تا اینها را به شمول زمینها ومملوکات شان با خود ضم سازند، در حالیکه کرواتیا استقلال خود را از یوگوسلاویا حاصل کرده است، این بود اصل حقیقت در گیری در بین صرب و کروات.

باز گشت به مسلمانان

بوسنیه:

وقتیکه پرچم اسلامي در چهار کنار بوسنیه به اهتزاز در آمد، مساجد

وتکیه خانه ها و مدارس اسلامی تأسیس گردیدند، بهمین طور حالات مسلمانان تابهٔ قرن نوزدهم میلادی مستمر بود، اما بعد از آن متأسفانه حکومت وحکام عثمانیه از ثقافت اروپائیها متأثر گشتند و قوانین شان را داخل قوانین خویش جا بجا ساختند که مردم آنرا رد کرده و قیام انقلابات محکم را بمیان آوردند، این حالات تا نصف قرن مستمر بود تا که بوسنیه در کنفرانس برلین (۱۲۹۸هـ) به امپراطوری نمساء تسلیم کرده شد وروز به روز حکومت عثمانیه مورد حملات جهات متعدد قرار گرفت که این اساس حکومت عثمانیه به (ب الرجل الضعیف) مسمی گردید، طوریکه بوسنیه به نمسأ تسلیم کرده شد صربیا، جبل اسود، بلغاریا، رومانیا، و یونان از تسلط حکومت عثمانیه خارج و از هم پاشیده شدند، صرف البانیا، سنداك، مقدونیا و پاره ئی از یونان تحت سیطرهٔ حکومت عثمانیه باقی ماندند، تا که جنگ جهانی اول بوقوع پیوست و ترکیه تصرف خود را بر سنداك، مقدونیا و البانیا از دست داد و بحدود حالیه اش الی الآن باقی ماند و دور حکومت عثمانیه بهمین جا به پایان رسید و گروپهائی بوسنیه در نمساء بر علیه کاتولیکها جهاد را آغاز نمودند تا که قیادهٔ مسلمین ازما ورائی حدود به سنداك انتقال یافت، مگر متأسفانه که به اساس مشاکل متوقعه با امپراطوری نمساء جهاد متوقف ساخته شد و یك تعداد زیاد به ترکیه مهاجرت نمودند که اکنون هم به تعداد چهار ملیون بوشناق الأصل بوسنیها در ترکیه وجود دارند، و سنداك در بین صربیها و جبل اسود منقسم گردید، و البانیا تحت حکومت غیر اسلامی قرار گرفت که به این اساس نصف گروپهائی البانی به ترکیه هجرت کردند وبقایای آن در منطقه کوثوفوتابع حکومت صربیها گردیدند.

حکومت نوین بعد از جنگ جهانیاول:

صربیا با طرفداری از فرانس وبرطانیا قیام نمود و نمسأ با شکست جنگی مواجه گردیده و به نام یوگوسلاویا به دولت جدید مبدل گردید، درین زمان قبائل سلاویهٔ جنوبی به اساس بغض و عداوتی که بخاطر اختلافات دینی شان داشتند، یك اجتماع را تشکیل دادند و به استناد اینکه صربیها در جنگ به کومك اینها پرداخته اند، حکومت را به صربیها تسلیم کردند، چون حکومت وقومندهٔ عسکری در دست صربیها قرار گرفت، معاملهٔ قتل عام مسلمانها آغاز گردید. در سال ۱۳۳۹هـ تحت ریاست دکتور سباهو تنظیمی به نام حزب اسلامی یوگوسلاویا تأسیس وبه مطالبه حقوق غصب شدهٔ مسلمانها از ارتودکس پرداختند. بعداً جنگ جهانی دوم واقع شد، و گروپهای صربیها به قتل مسلمانها و کرواتیها آغاز نمودند. متأسفانه که اجساد مقتولین را مثله هم میکردند، در مقابل این اعمال صربیها گروپهای کرواتیا نیز قیام کرده وقتل صربیها را آغاز نمودند ولی مسلمانها را نیز بقتل میرساندند و به تعداد هزاران مسلمان در پل هائی غرشده واقع بوسنیه کشته شدند که درین جنگ تعداد کشته شدگان به دو صد هزار مسلمان بالغ گردید. درین وقت حرکت اسلامی ای تحت زعامت شیخ محمد خانجیخ و شیخ قاسم (دوبراجا) به میان آمد که به این اساس اشاعت فکر اسلامی در بین مردم بوسنیه آغاز یافت. قابل ذکر است که علی عزت بیگوویچ رئیس حالی بوسنیه یکی از اعضاء این حرکت اسلامی بود، وقتی جنگ متوقف گردید متأسفانه تصرف امور حکومتی را حزب کمونیست برهیری جوذیف بروس تیتو کرواتی بدست گرفت که اکثر معاونین این شخص از باشندگان صرب بودند و اینها یك اتحاد فدرالی ای متشکل از شش جمهوریت در یوگوسلاویا را بمیان آوردند و بلگراد را که پایتخت صرب بود به حیث مرکز اتحاد شان تعین نمودند.

۱- جمهوری صربیا ارتودکس که پایتخت آن بلگراد بود به سطح اتحاد فدرالی حیثیت مرکزیت را نیز دارا میباشد، و همچنان دو ولایات دیگر را به این جمهوریت ملحق ساختند که یکی از آن کوثوفو است که اکثریت این ولایت مشتمل بر مسلمانها است.

۲- جمهوریت کرواتیا کاتولیکی که پایتخت آن زغوب است.

۳- جمهوریت بوسنیه وهرسك که پایتختش ثرائفو است و اکثر سکانین این جمهوریت مسلمان و اقلیت شان مشتمل برا ارتودکس وکاتولیك غیر اسلامي میباشد.

٤- جمهوریت سلوفینیا کاتولیکي که پایتخت آن لیوبلیانا است.

۵- جمهوریت مقدونیا ارتودکسي پایتخت آن سکوبیه است که مسلمانان هم شامل آن اند.

٦- جمهوریت جبل اسود ارتودکسي که مسلمانها نیز شامل آن آند و پایتخت شان تیتو گراد است.

ولي بعد از شکست کمونیستها که در سال ۱٤۱۰هـ واقع شد اختلافات پر تشدد در بین جناح های مختلف این جمهوریتها به میان آمد که در چند سطور ذیل خلاصه میگردد:

کاتولیکها میخواهند تا کرواتیا را از یوگوسلاویا جدا ساخته و با انضمام ثلوفینیا بمعهء شهرهایٔ شامل آن کرواتیا را یك دولت قوی ومستقل بسازند و نیز مطالبه دارند تا جمهوری بوسنیه و هرسك را با کرواتیا ملحق سازند، در حالیکه ارتودکسها میخواهند تا صربیا را یك دولت قوی بسازند که ارتودکس و جبل اسود هم شامل آن باشد و همچنان مطالبه میکنند که ارتودکسهائی ساکن در کرواتیا و بوسنیا بمعه زمینهائی شان تابع صرب باشند.

مردم مقدونیا گرچه ارتودکسی هسند ولی لسان شان بلغاریوی است الحاق خویش را به بلغاریا ترجیح میدهند، و مسلمانهائیکه از قتل عام صرب و کروات باقی مانده اند اکثریت خویش را در بوسنیه و سنداك و کوثوفو همچنان در غرب مقدونیا تشکیل داده میخواهند تا حکومت ذاتي شان در جمهوریت بوسنیه و هرسك قایم باشد.

تسجیلات تاریخي راجع به دخول اسلامي دریوگوسلاویا:

درسنه: ۷۷۳ هـ عثمانیها در شهرهایٔ بوشناق (بوسنیه) داخل شدند.

درسال: ۷۸۵ هـ لشکرهائی نصاری در آدرنه به شکست مواجه شدند.

در سال: ۷۸۵ هـ همچنان فتح مقدونیا تکمیل شد.

درسال: ۷۹۱هـ مسلمانها بر قوات نصاری صرب وبلغاریا غالب آمدند.

درسال: ۸۷۲ هـ یلگراد بدست مسلمانها کاملاً بسقوط مواجه شد.

درسال: ۸۸۳هـ سلطان محمد الفاتح در بلاد بوسنیه داخل گردید و ساکنین بلاد را تابع به اسلام ساخت.

در سال: ۹۰۱ هـ بوسنیه و هرسك کاملاً فتح گردید.

درسال: ۹٤٦ هـ اکثریت کرواتیا فتح گردید.

درسال: ۹۸٦ هـ عثمانیها به ثلوفینیا مواصلت ورزیدند ولی در حدودش توقف کردند.

تنزل پیچیده در جانب اسلامي:

متصل به ضعف حکومت عثماني تنزل در جانب اسلامي آغاز شد:

در سال : ۱۱۱٤هـ نمسأ کرواتیا را به تصرف خود در آورد.

در سال: ۱۱۱۷هـ سکان جبل اسود از حکومت عثماني جدا میشود.

درسال: ۱۲۵۰ هـ صربیا از حکومت عثماني جدا میشود.

درسال : ۱۲۹۸ هـ عثمانیها خلع قدرت میشوند و در بوسنیه قدرت به نمسأ تسلیم میشود.

درسال : ۱۳۳۲ هـ در نتیجه حملهء صرب و جبل اسود، البانیا که تحت تصرف عثمانیها بود قوت سیاسي ونظامي را از دست میدهد.

در سال: ۱۳٦۸ هـ متأسفانه یوگوسلاویا کاملاً تحت تصرف کمونیستها قرار میگیرد.

درسال: ۱۲۵۰ هـ وقتیکه مسلمانها بلگراد را از دست دادند نصاری فیصله نمودند تا مساجد را منهدم و یا به میخانه ها مبدل سازند طوریکه مسجدی به نام (بیتاد) بالآخره مرکز شورای پارلمان یوگوسلاویا قرار گرفت.

درسال: ۱۳۳۸هـ متصل به قیام حکومت یوگوسلاویا زمین های مسلمانان را تحت شعار اصلاحات اراضي مصادره نموده و به خاطر رفاه ارتودکسها توزیع گردید، در جنگ جهانی دوّم بیش از دو هزار مسلمانان بتوسط کاتولیکها وارتوکسها بقتل رسیدند که در پل هائی غرشده هزاران مسلمانان ذبح کرده شدند.

۷- وپس از اختتام جنگ جهاني دوّم و با تصرف حزب کمونستها حکم صادر شد تا علماء مسلمین به محبس ها کشانیده شوند، و همچنان تعلیم دیني در خانه ها و مساجد مسدود گردانیده شود، و اگر کسی دیده میشد از طرف حکومت محکوم به جزاء میگردید مساجد باقي مانده را به ویرانه مبدل ساختند، اوقاف اسلامي را مصادره نمودند، بالمقابل نصاب تعلیمي مارکسستی را تصویب نمودند، حجاب از بین برده شد، ونامهای اسلامی لغو قرارداده شد، که این عذاب به شکل حکومت کمونستي نزدیك به چهل سال ادامه داشت.

۸- درسال ۱٤۰۱ هـ علمائیکه باقي مانده بودند تماماً گرفتار کرده شدند و در همین سال مسلمانان کوثوفو به خاطر رعادي شدن وضع دست به تظاهرات پرتشدد زدند ولي متأسفانه که حکومت توسط آهن و آتش این تظاهرات را خاموش ساخت.

در سنه ۱٤۱۱هـ و تا حال آتش جنگ خانگی بر افروخته شده و قربانیهای مسلمانان جریان دارد، چنانچه مسئولین احزاب صربیا تصریح نمودند که زمینه قتل مسلمانان جدیداً مساعد گردیده است.

نامها وواقعات قابل ذکر:

در سال ۱۳۲۰هـ تحت قیادت علی فهمي جابیج انقلاب بر پا گردید که در نتیجه تسلط و حکومت دکتاتوری تمساً را بالای بوسنیه کوبیدند.

و در سال ۱۳۳۹هـ تحت قیادت دکتور محمد سباهو حزب اسلامي یوگوسلاویا تأسیس گردید.

و در سال ۱۳۷۱هـ بنام حرکة الشبان المسلمین تحت قیاده شیخ محمد جانجیخ و شیخ قاسم دویراجا نشأة کرد.

ودر سال ۱۳۹۲هـ مسلمانها مدرسه ثانوی دیني در سرائیفو را از دست نصرانیها اعاده کردند.

و در سال ۱۳۷۹هـ مسلمانها فاکولته تربیه دعاة و أئمه را در سرائیفو إفتتاح نمودند.

و در سال ۱٤۱۰هـ مسلمانها به سطح یوگوسلاویا اتحاد اسلامي را تشکیل دادند که در پهلوی آن مجلس جهت تنظیم شئون مسلمانها در تمام جمهوریتهای مربوط نیز وجود داشت.

و در سال ۱٤۱۱هـ جمهوریت بوسنیه وهرسك بعد از اجتماع پارلمان شان استقلال خود را از یوگوسلاویا اعلان وبه نام جمهوری اسلامي تحت قیادت مستقل آغاز به کار نمود.

وضع موجوده مسلمانان در یوگوسلاویا

مسلمانها در یوگوسلاویا با مشکلات متعددی مواجه اند، جمهوریت بوسنیه با آتش باران دائمي بتوسط اسلحهء ثقیله از جانب صرب وکروات رو برو است در حالیکه قوات عسکری بوسنیه با اسلحه وطیارات ساخت جدید مجهز نیست.

أما مسلمانان در دو جمهوریت (صربیا و کرواتیا) اجباراً به خدمت عسکری کشانیده میشوند و در جنگها در صفوف اول متعین میگردند به این اساس علی عزت بیگویچ از مسلمانها خواسته است تا در افواج صرب وکروات اشتراك نه ورزند.

و مسلمانان سنداك و زعیم آنها سلیمان او غلنینین با هم جداً میخواهند تا سنداك با بوسینه ضم گردد و صربهائیکه در بوسینه سکونت دارند استقلال و انضمام خویش را با

صربیاء کبری اعلان کرده اند.
درین حال ایران متوجه شد تا نزد صعوبت و مشکلات موقف بهره برداری نماید بناءً سفارت ایران با طلاب عراقیها شیعه روافض نشاطات خود را آغاز نموده و این مسلمانهای پریشان حال را بطرف رفض تشیع دعوت میدهند و از طرف دیگر به تائید نشاطات اینها گروهای صوفیهء خرافات پیشه نیز دیده میشوند، و همچنان از بعضي صحائف ایراني مقالات ترجمه شده را که در آن رد بر اهل سنت است نشر وشایع مینماید ودعوت به فکر تشیع وصوفیه خرافات پیشه بعمل می آید، طوریکه ایران درجامعات اینها چانس تعلیمي با یك اندازه پول بشرطیکه بفکر شیعه گردن نهاد شود تهیه می نماید، در حالیکه صوفي های خرافات پیشه بر امور عمده اینها سیطره کامل در آنجا دارند چانچه رئیس این گروه خرافاتي یعقوب سلیموژسکی از خاندان صوفیه که پدرش درین سلسله نیز شیخ بود.
ولی متأسفانه که ضعف علماء و دعاة اهل سنة والجماعة باعث این گردیده که مسلمانهائی فهمیده و مثقف همیشه در مقابل ثقافت اروپائیها با شکست مواجه اند.
أما مسلمانان البانیا که در کوثوفو سکونت دارند اینها در بین خود رابطه ندارند تا به اساس اجتماعات روی مشکلات شان مفاهمه نمایند، طوریکه نصاری البانیا در آنجا تنظیمی به نام حزب دیموکرات مسیحي دارند که رابطهء با همه شان قایم است، ولی متأسفانه که اغلب اعضاء این تنظیم را مسلمانها تشکیل میدهند حتی در یك احصائیه اسکاني زعیم البانیا از ابراهیم ذاغو خواست تا در شهرت اسماً ذکر دین شان نه باشد که درین صورت تائید اروپا را مفقود خواهد گردید.
أما در مقدونیا تمام احزاب بر اساس دکتاتوری استوار اند به استثناء از تنظیمي که بنام رابطه الشباب المسلمین است، ولي متأسفانه که با مقاومت شدید تر از جانب اقوام و صوفیهای خرافاتي انجا مواجه اند.
در بوسنیه حزبي بنام العمل الدیموکراتي است که درسال گذشته تأسیس گردیده و قیادت آن بد ست علی عزت بیگو ویج است که مسلك جداگانه از طریقه شرعي دارد، بناءً از تأیید مسلمانهای بوسنیه محروم است طوریکه نیتش به اساس اشتراك آن در معاهده کومنولت با کرواتیا وثلوفینیا واضح گردیده است.

مسؤلیت مادر در قبال مسلمانان بالقان

با وجود اینکه مسلمانان در آنجا از امور اسلام کاملاً جاهل اند، و این بنا بر دوری منطقة ونه بودن دعات بوده ولی این صورت حال مسؤلیت ما را ساقط نمی سازد، حق مسلمیکه از آنها بر ما هست هنوز باقي است تا این برادران ما چرا گاه تشیع و تصوف وغیره قرار نگیرند وبه این اساس مسئولیت ما در قبال شان چنین دیده میشود:
١- مساعدت آنها در آن پارچه زمین بعید به خاطر در یافتن غلبه بر جهل و بد بختي و روحیات شکست خوردهء در مقابل تمدن اروپاء.
٢- تأئید استقلال مسلمانان در بوسنیه و سنداك، وکوثوفو و مقدونیا و بلغاریا.
٣- اهتمام و تصمیم گیری راجع به البانیا به خاطر اینکه البانیا دولتي است که اکثریت قوت را مسلمانان در آن جا تشکیل میدهند.
٤- مساعد ساختن زمینه و فرصت به خاطر هجرت مسلمانان مستضعف تا اندوه هائیکه ترکیه حین مسدود ساخت ابواب شان بر روی مسلمانان بلغاریا دوسال قبل بمیان آورده بود تکرار نه شود.
٥- بر اهل سنه والجماعت لازم است تا جهت رفع دوام رفض و تشیع که قبلاً تذکر یافت جد وجهد نهائي خویش را بکار اند ازند و این ممکن است که بتوسط ارسال کتب وفیته های اسلامي وتر جمه آن به مطابق لسانهاي آنها و قیام اجتماعات حسب احوال آنها و ارسال دعات تا بمنهج سلف صالح آنها را أشنا سازند.

ژورنالیستي درسونه

دویم بحث

د خبر عناصر

(عابد)

ټولنیزي ژوره راکښونکې پېښې هغه وخت په ښه ډول خپریدلي شي چه د هرې پیښې د رامنځته کیدو ګټور عناصر او عوامل په پوره ډول وپلټل شي او خلکو ته وړاندې شي.

په عمومي توګه هر خبر که څه هم کوچنی او لنډ وي، باید لاندیني عوامل او عناصر پکې ولټول شي.

۱- هغه کس یا کسان چه په پیښه کې ګډون او مداخله لري او یا پیښه په یوه یا بل ډول په هغو پورې اړونده وي.

۲- د پیښې ډول او موضوع، یعني هغه څه چه پیښه ئې تشکیل کړېده.

۳- هغه علتونه او انګیزې چه دپیښې د رامنځته کیدو سبب شویدي.

٤- څرنګوالی چه د پیښې ترتیب او کیفیت څرګندوي.

٥- وخت چه د پیښې موقعیت د نیټې، ورځې او ساعت له لحاظه ټاکي.

٦- ځای چه د پیښې څرنګوالی د محل او له نورو ځایو څخه د فاصلې له لحاظه ټاکي.

باید پوه شو چه له پورتنیو عناصرو او عواملو نه بهر هیڅ ډول پیښه را منځته کیدای نشي او کله چه یو خبریال د خبر تهیه کولو اراده وکړي باید دغه عناصر او عوامل په خپل ذهن کې وساتي او په خپله لیکنه کې ئې مراعات کړي، په دې ډول د پورتنیو شپږو عناصرو په پام کې ساتلو سره خبریال د خبر جوړولو په وخت کې له شپږو پوښتنو سره مخامخ کیږي.

۱- څوک؟

۲- چیرې؟

۳- کله؟

٤- څه؟

٥- ولې؟

٦- څنګه؟

دغه پوښتنې د «سه ك وسه چ» (که؟ کجا؟ کی؟ چه ؟ چرا؟ چگونه؟)

او په انګریزي کې د شپږ
Who? what?)
why? How? where?
(when?
د قاعدې په نوم یادیږي.

په خبري عناصرو باندې د ښه ترا پوهیدو لپاره دا مثال په نظر کې ونیسئ: که په پښتو کې ووایو: «یو سړي ټپي شو» دا جمله د ژبې د قانون له حیثه هیڅ عیب نه لري خود خبر له حیثه نیمګړې ده ځکه چه د

سړي مشخصات او د پېښې ځای، وخت، وجه او څرنګوالی يو هم څرګند شوی نه دی. نو ځکه خو خبريال مکلف دی د خبر دپيدا کولو لپاره له هر څه نه وړاندې د هغه تشکيلوونکی عناصر په نظر کې ونيسي که نه د اوږدو، صحيحو او ادبي جملو او د ليکوالۍ د عالي سبك استعمال به دخبر په جوړولو کې هيڅ رول ونه لري. همدا وجه ده چه د ژورناليزم په پوهنځيو کې هيڅکله هم د خبر ليکنې کار د مقالو او تفسير له ليکلو څخه نه پيل کيږي، بلکه لومړنی تمرين د يو لنډ خبر له ليکلو څخه چه په هغه کې خبري عناصر او شپږ پوړتنې پوښتنې په لنډو ټکو کې بيان شوي وي پيل کيږي.

مثال:

«پنځوس کلن ورځپانه ليکونکي عبدالقدير نن سهار هغه وخت سخت ټپي شو چه موټر سايکل ئې د بې احتياطۍ او چټك تللو له امله د يوه روان بس سره په ميوند واټ کې ټکر وکړ.»

لکه څنګه چه وينئ دغه عبارت د پخوانی جملې «يو سړی ټپي شو» سره زيات توپير لري ځکه په اوسنۍ جمله کې د پېښې ټول عناصر مشخص شوي او د خبر له لحاظه يوه پوره جمله ده. ثابته ده چه د خبر د يو عنصر په له پامه غورزولو سره خبر نيمګړي او بې مفهومه کيږي نو ځکه خو خبريال ملکف دی چه د خبر ليکلو په وخت کې له خپله ځانه پوښتنه وکړي: څوك په پېښه کې ګډون لري؟ پېښه څه وخت را منځ ته شويده؟ د پېښې ځای کوم دی؟ پېښه څه ډول ده؟ پېښه څنګه رامنځته شويده او ولې پېښه شويده؟ په دې ډول داسې نتيجې ته رسيږو چه خبر ليکل له هر څه نه وړاندې له ځان نه پوښتنه کول دي.

دپوړتنيو شپږګونو عناصرو په باب لاندينی توضيحات ضروري دي.

الف: څوك؟

دغه عنصر يو تن يا هغه کسان چه دپيښې فاعلين دي او يا په کوم بل ډول په پېښه کې ګډون لري په نخښه کوي. ددغه عنصر له حيثه دخبر د پوره کولو لپاره د شخص نوم د پلار نوم، عمر، د اوسيدو ځای، کسب او د هغه د اولادونو شمير بايد وليکل شي.

دغه عنصر په خبر کې يوازې د انسان لپاره نه پکاريږي بلکه ممکنه ده چه دکوم شي يا اداري لپاره هم وي، په دې صورت کې لازمه ده چه له هغه سره مناسب پوره کوونکی اطلاعات په خبر کې ذکر شي.

ب- کله؟ (څه وخت؟): دغه قيد د حادثې د پيښيدو وخت په ګوته کوي. په دې ځای کې بايد پاملرنه وشي څنګه چه د ورځپانو دصفحو په پوړتنی برخه نيټه ليکلې شوې وي د خبر به متن کې د معمول له مخې پرون يا نن ليکل کيږي خو په دې کې هم ترديد نشته چه که حادثه څه موده وړاندې پيښه شوې وي، خو اوس راښکاره شوې وي، نو ساعت، ورځ، اونۍ او مياشت هم بايد په خبر کې ياد شي. په مهمو خبرونو کې په احتمالي ډول دپيښې د رامنځته کيدو دقيقې هم د لوستونکو لپاره په زړه پورې وي.

پ: چيرې؟ دغه قيد د حادثې د پيښيدو ځای ټاکي. په عمومي ډول که دغه ځای کوم ښار وي نو د هماغه ښار د نوم اخستل کفايت کوي خو کله کله ضروري کيږي چه د محلې، کوڅې او د هغه کور لمبر چه پيښه پکې را- منځته شوې هم بايد په خبر کې راوړل شي.

البته د کليو او کوچنيو ښارونو لپاره ضرور نده چه هلته دمحلې، کوڅې او د کور په لمبر پسې زړه سترې

شی ځکه په کليو او ښار ګوټو کي هر ځوك يو بل پيژني او بل دا چه د وروسته پاتی هيوادو په کليو کی د کوڅو او کورونو نمبری وجود نه لري.

ت: څه؟ د پيښی نوعيت او موضوع په دغه پوښتنه پيل کيږی او په دی ډول بيلا بيلی پيښی لکه کوم علمي کشف، د کومی فابريکی پرانستنه، زلزله، توپان، سيلاب او داسی نور له يو بله پکی جلا کيږی.

ث: ولی؟

دغه پوښتنه د پيښی د رامنځته کيدو وجه او د کار د فاعل يا فاعلينو هدف او انګيرنه په ګوته کوی. بايد په نظر کی ولرو چه ډير وخت داسی کيږی چه د «ولی» دپوښتنی ځواب د خبر ليکلو په لومړی مرحله کی په لاس رانشی او د هغه د پيدا کولو لپاره زيات وخت پکار شی، د مثال په توګه کله چه کومه الوتکه راغورزيږی يا کوم موټر له سړك څخه بی لاری کيږی يا څوك وژل کيږی، په فوری ډول ئی علت نه شي معلوميدی.

ج: څنګه؟ دغه قيد د حادثي دپيښيدو څرنګوالی معلوموی، لکه څنګه مو چه د خبر په تعريف کی وويل يوازی د پيښی اعلام کفايت نه کوی بلکه د هغی څرنګوالی هم بايد بيان او تحليل شی تر څو لوستونکی او اوريدونکی په پوره ډول له پيښی څخه خبر شی.

د پيښي څرنګوالی خو کله ساده وی او يوازی په يوه کرښه يا جمله کی رانغښتل شی مثلاً که ووايو چه: دغه ترافيکی پيښه له سړك څخه د موټر د انحراف په وجه منځته راغلله . خو کله خبره ديو پټ قتل څخه پرده پورته کوي او په دغه حالت کي بايد دغه جنايت په تفصيل سره بيان شي.

پوره خبر :-

دخبر پوره والي له يوي خوا دخبر په اهميت او له بلي خوا د خبر له پوهيدلو سره د لوستونکي دميني او علاقي په تناسب پوري تړلي دي. تر کومي اندازي چه دخبر اهميت زيات او تر کومی اندازي چه د خبر له اوريدلو او پوهيدلو سره دلوستونکي مينه او علاقه زياته وي خبر بايد مفصل او جامع وليکل شي.

په دي بناء لوستونکو ته ديو پوره خبر د وړاندي کولو لپاره کافي نه ده چه يوازي د خبر په شپږو عناصرو اکتفاء وکړو او شپږو واړو ته ځواب ووايو بلکه بايد دخبر د اهميت او د لوستونکو د علاقي په نظرکي نيولو سره هر يو عنصر تر پوره اندازي تشريح کړو او هغه مهم ټکي چه ديوي مقدماتي توضيح نه وروسته بيا هم په خبر کي پاتي کيږي بايد څرګند شي. ډير ځله داسي کيږي چه يو خبر سره له دي چه شپږواړو خبري عناصرو ته پکي ځواب ويل شوي وي بيا هم ناقص پاتي وي.

مثال :-

ژاکلين او اوناسيس د ۱۳۷۲ کال د حمل دمياشتي په پنځمه نيټه د يکشنبي د ورځي په ماذديګر د اسکورپيوس د جزيري په کليسا کي سره واده وکړ.

دواده مراسم ديوناني ارتدوکس په سبك سرته ورسيدل.

دغه خبر ناقص دي، ځکه ډيري پوښتني پکي لوستونکو ته پيداکيږي چه بايد ځواب ورکړل شي.

- ژاکلين څوك دي؟

- او ناسيس څوك دي؟

- د اسکورپيوس جزيره چيرته ده؟

- ولي وادهٔ په اسکورپيوس کي جوړ شو؟

- ولي دوادهٔ مراسم په يو ناني ارتدوکس سبك سره سرته ورسيدل؟

البته په يو لنډ خبر کي دغو ټولو پوښتنو ته ځواب نشي برابريدي خو پکار ده چه دخبر هرجز ته بايدمناسب ځواب ورکړل شي.

(نوربيا)

د رموز اشارتونه

خزانه رب د پاره نور دغه ظلمونه پریږده
گلونه ختم شو اوس پاتی ډنډرونه پریږده

شینکی چمن دې په دا خوشی بیابان بدل کړ
اوس د بلبلو نواگانې فغانونه پریږده

نورې پرې مالگې د درو په بانه مهٔ دوړوه
د رغیدو په اُمید سوي پرهرونه پریږده

دظلم لاس د وینو ډکې خولې ته څه معنیٰ ده
لږ په ارام مې دا دسوي زړهٔ آهونه پریږده

مرهم پټی خو ماته پته ده چه نهٔ راکوې
لږ د الله په اسره دا سوي زخمونه پریږده

هر یو گریوان دې کړلو څیری تر لمنې بس دی
وانخلې نور د مظلومانو ازارونه پریږده

د هجر شپو ته خاتمه شه نور سهر په کار دی
راوله نوي سهارونه ماښامونه پریږده

اخر دې وینه یم عبث می تویوي ته څله!
وگوره ماته د پردیو لمسونونه پریږده

«افسوسه» بس دی عاقلان پرې واړه ښه پوهیري
د زړهٔ ړندو ته د رموز اشارتونه پریږده

زمونږ امید

محمد زمان

مونږ ترې د نفعې په امید وو دوی ضرر راوړي
مونږ ترې د خیر طمعه کوله خو دوی شر راوړي

مونږ ویل کشتۍ به د امید زمونږ ساحل ته رسي
چه ګورو اوس د غرقیدو چپې په سر راوړي

هلته کابل کې مشران په اقتدار نښتي دي
دلته کنړ کې مشران ځي سلیپر راوړي

په استثنا د حق پرستو مؤمنانو ځني
معاشرې ته فساد ونه خیته ور راوړي

چه حق پرست نه وي قرآن کې ئې مثال داسې دی
لکه چه بار د کتابونو په شا خر راوړي

مونږ ازادي ربه ارزو نشین بهار ګڼله
څنګه بهار دی چه غمونه لا بدتر راوړي

چه د "عمر" غوندې عادل مشر پیدا شي دلته
کله به مونږ ته ځوک د دې ورځې خبر راوړي

ربه! دا شپه د انتظار به صبا کیږي کله؟
کله به باد صبا زیری د سهر راوړي

عاقل انسان ته خو د سترګو اشاره کافي ده
ړانده ته څه دي چه ئې مخې ته دفتر راوړي

د ځوان نسل اسلامي مسئوليتونه

د ځوانانو ددعوتي شخصيت د تکوين عوامل

د بشريت لارښود نبي کريم ﷺ د مسلمانو ځوانانو د مسؤليتونو او ددغو مسؤليتونو او ذمه واريو د سرته رسولو او د الهي احکامو دتبليغ اوبيان دسترامانت د اداء کولو لپاره دځوانانو دتياري او آمادګۍ په باب زياته توجه څرګنده کړي او په دغه باب ئي څرګندي لارښووني فرمايلي دي.

دساري په توګه دځوانانو په زړونو کي ددي باور د ټينګښت په باب چه الله تعالى تل دهغوي دحال مراقب دي او بايد د ښو او ښکاره کارونو دسرته رسولو په وخت کي له الله تعالى څخه ووېرېږي، پيغمبر ﷺ په يو حديث شريف کی چه احمد له معاذ رضي الله عنه څخه مرفوعاً روايت کري فرمايلي دي چه:

أنفق على عيالك من طولك ولاترفع عنهم عصاك أدبا واخفهم في الله. (رواه احمد)

يعني؛ له خپل مال او ثروت څخه په خپل اهل وعيال باندي مصرف وکړه اود تاديب امسا ئي له سر څخه مه ليري کوه او هغوي له الله تعالى څخه ووېروه.

دغه راز پيغمبر ﷺ د الله تعالى د آوامرو په وړاندي د متعهدانه فرمانبرداري، الله ته دعبادت او مطلق تسليم، خپل خالق ته د توبي او ويري د اصل په اساس دځوانانو د روزني په باب فرمائي:

«سبعة يظلهم الله في ظله يوم لا ظل إلا ظله» يعني؛ اوه تنه به الله تعالى په هغه ورځ چه بيله دالله تعالى دعرش له سيوري څخه بل سيوري نه وي، دخپل عرش په سيوري کي وساتي. په دغه مبارک حديث کي رسول الله ﷺ ددغو اوو کسانو په ډله کي يو هم هغه ځوان يادوي چه دالله تعالى په عبادت کي لوی شوي وي. په همدي ډول رسول الله ﷺ ځوانانو ته دعوت ورکوي چه د روحي، بدني، عقلي، اخلاقي او نفسي لحاظه دخپل شخصيت دتکميل په خاطر له وخت څخه ګټه واخلي فرمائي:

إغتنم خمساً قبل خمس: حياتك قبل موتك وصحتك قبل سقمك و فراغك قبل شغلك وشبابك قبل هرمك وغناك قبل فقرك. (رواه احمد والحاکم وهوصحيح)

يعني: پنځه شيان له پنځو شيانو څخه وړاندي غنيمت وګڼه: ژوند ...

وړاندي له مرگه، صحت او روغتیا دی وړاندي له ناروغۍ، وزگارتیا دی وړاندي له مصروفیته. ځواني دی وړاندي له بوډا توب او شتمني دی وړاندي له تنگلاسۍ او غربته.

دالله تعالی په وړاندي دمسئولیت او دهغي ورځي دمحاسبي په باب چه خلك به دالله تعالی حضور ته راوړاندي شي په هغه حدیث کي چه ترمذي روایت کړیدي فرمائي:

«لا تزول قدما ابن آدم یوم القیامة من عند ربه حتی یسأل عن خمس: عن عمره فیم افناه؟ وعن شبابه فیم ابلاه؟ وعن ماله من أین اکتسبه وفیم أنفقه؟ وما ذا عمل فیما علم؟»

(رواه الترمذي)

یعني: همدا چه ابن آدم دالله تعالی حضور ته دحشر په میدان کی وړاندی شی د پنځو شیانو پوښتنه به تري وشي: د ژوند په باب ئی چه په کومو کارونو کی ئی تیر کړی دي؟ د ځوانی په باب ئی چه څنگه ئی تیره کړی ده؟ د مال او شتمنۍ په باب ئی چه څنگه ئی لاسته راوړی او څنگه ئی مصرف کړی ده؟ او کوم علم ئی چه زده کړی تر کومه حده ئی وربانذی عمل کړی دی؟

دشرعي وادهء له لاری له بی بندوبارۍ او فحشاؤ څخه د ځوانانو د نفسونو د پاکوالی او حفاظت په باب رسول الله ﷺ په هغه مبارك حدیث کی چه صحیحینو او اصحاب سنن أربعه روایت کړی فرمائي:

«یا معشر الشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج فإنه غض للبصر واحصن للفرج...»

یعني: ای ځوان کوله! هر څوك چه په تاسو کی د واده توان او قدرت ولری نو واده وکړی، ځکه چه واده (دحرامو له لیدلو څخه) د سترگو ساتونکی او د حرامو له ارتکاب څخه د آلت ساتونکی دی.

دغه دی د ځوانانو د جوړښت، د هغوی د انسانی شخصیت او ټولنیزی روحیي دتعمیر او تکوین لپاره د رسول الله ﷺ د پروگرام او خط مشي اصلاحي ټکی او اړخونه او شك نشته چه ددغه تعمیری پروگرام هدف یوازی او یوازی د ځوانانو روحی، اخلاقی، عقلی، بدنی او نفسی تکامل نه بلکه په ټول ډول د هغوی د شخصیت ټولو اړخونو تکامل دی چه ځوان نسل کولی شی ددغه تکامل په برکت د امانت د اداء کولو او د مسؤلیت د سرته رسولو لپاره قوی او پیاوړی او په اسلامی مبادیو باندی د پابندۍ لپاره مستحکم او نه بدلیدونکی دی، په دی ډول چه نه د باطل په وړاندی سر ټیټوی، نه کمزوری کیږي او نه د ټهټرا او زوال په لور روانیږي او نه ئی د فتنو بادونه د هدف مسیر او لاره ورته ټاکی او نه د فساد په ډول ډال تیروزی، نه ئی په زړه کی نا امیدی او مأیوسی پیدا کیږي او نه ئي پښې د بی بند وبارۍ او فحش او فساد په ډنډ ورگډیږي. په دی ډول ځوان ثابت قدم، راسخ العقیده، مؤمن، مجاهد او د رسالت د سرته رسولو لپاره مستعد او نه ستړی کیدونکی پاتی کیږي، تر هغه چه الله تعالی ئی د عزت او سر لوړی په مرگ خپل لوری ته وغواړي او یائی د شهادت لوړ مقام په برخه کړي.

ځوانان په هر وخت او هر ځای او د تاریخ په هر عصر کی تر دی وخته چه مونږ ژوند پکی کوو د اسلامی امت بنسټ، د هغه دقیام او استحکام عامل، د هغه د تمدن د سرلوړی او ترقی باعث، د اسلامی با عظمته بیرغ اوچتوونکي او د عظمت او کامرانی په لور د وړاندی تللو لپاره د اسلامي جهادی قواؤ رهبران او سالاران دي.

گرانو ځوانانو: آیا پوهیږئ، هغه مؤمنه ډله چه داسلامي دعوت د لمړ څرك په وخت کي په دارالأرقم کي سره راغونډه شول ځوانان وو؟ هو، هغوی ځوانان وو، داسی ځوانان چه د ځوانۍ

په عمر کی ئی عقل کمال ته رسیدلی ؤ، سترگی ئی د شر په لیدو نه خوږیدی، پښې ئی د باطل په لاره نه تللي، بدنونه ئی د زیات عبادت له امله زیړ او زبیښلی شوی وو او د اخلاقي معیارونو مثال او د صبر، تبلیغ او جهاد یو ځانگړی امت ؤ.

ای مسلمانو ځوانانو!

آیا پوهیږۍ چه اسلامي جنډه د بشری پرگنو په منځ کی د چا په واسطه ورپول شوه؟ او اسلامي سلطه د ځمکی په مخ چا خپره کړه او اسلامي دعوت نړیوالو ته چا ورساوه؟ دا ټولی ستری چاری د ځوانانو د هغی مؤمني ډلی له خوا په بریالیتوب سره سرته ورسیدی چه دنبی کریم ﷺ په مدرسه کی روزل شوی وو او د هغه له پوهنتون څخه چه د ټولو علومو مهد او مرکز دی فارغ شوي وو.

راځئ چه د هغوي د هر یو تن داستان درته بیان کړو او هر یو د اسلامي مسؤلیتونو او وجایبو د سرته رسولو له حیثه وڅیړو.

هغه مهال چه رسول الله ﷺ د الله تعالی له لوری په پیغمبرۍ مبعوث شو څلویښت کلن ؤ او دا د ژوند هغه مرحله ده چه ځوان پکی د خپل کمال مرحلی ته رسیږي. ابوبکر صدیق رضي الله عنه په عمر کی د پیغمبر ﷺ څخه دری کاله کوچنی ؤ او عمر رضي الله عنه د ایمان راوړلو په وخت کی اوه ویشت کلن ؤ او عثمان رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه کوچنی ؤ او علي رضي الله عنه تر ټولو لږ عمر درلود او په همدی ډول عبدالله ابن مسعود، سعید بن زید، عبدالرحمن بن عوف، بلال بن رباح او مصعب بن عمیر او لس گونه بلکه په سوونو تنه نور اصحاب ټول ځوانان وو، دا د ځوانانو هغه ډله وه چه په صدر اسلام کی ئی د اسلامي دعوت جنډه اوچته کړه، د الله لوری ته ددعوت او د مقدس جهاد مبارك علم ئی په خپلو اوږو واخست تر هغه چه الله تعالی د هغوی په واسطه ستره فتحه ثابته کړه او اسلامي دولت تأسیس شو.

او تاسو ټول ځوانان پوهیږۍ چه مسلمانانو ته د فارس او روم د دوو سترو امپراتوریو تسلیمیدل او د اسلامي عدالت قلمرو ته د سوریې، مصر، عراق، طرابلس او شمالی افریقي د داخلیدو او داسی نوری ستری کارنامی ټولي د ځوانانو په لاس د پنځه دیرشو کالو په موده کی چه د راشده خلفاؤ مبارك عصر ؤ سرته رسیدلي دي.

او د همدغو ځوانانو د جهاد په وجه د بني امیه د سلطنت په وخت کی د مسلمانانو د حکومت قلمرو پراخ شو او اسلامی سلطنت دومره لوی شو چه د سند ځمکه او د هند او ترکستان زیات ښارونه ئی لاسته ورغلل او د ختیځ له لوری د چین حدودو او د لویدیځ له لوری په اروپا کی اندلس ته ورسیدل او خلیفه هارون الرشید هغه وخت چه غوښتل ئی د اسلامي نړۍ وسعت نړیوالو ته په گوته کړی بیله دی ئی بله چاره ونه لیده چه هغو وریځو ته چه ددارالخلافې څخه په تیریدو وی وویل: «هر چیری چه غواړی ووره، خراج به ئی مونږ ته ورسیږی».

نه یوازي دغه بلکه د مسلمانانو فتوحات د لویدیځ تر ورروستیو برخو پوری ورسیدل او عقبه بن نافع د اقیانوس اطلس په غاړه هغه وخت چه د اسپ پښې ئی اوبو ته ښکته کړی بحر ته ئی په خطاب کی وویل: اي زما ربه ! اي د محمد ﷺ ربه! که دغه بحر می د لاری خنډ نه وی نو بیله شکه به می نړۍ‌ستا د کلمی د

اعلا او لوړتیا لپاره فتحه کړی وای.
نو ای الله! ته پر ما گواه اوسه!!.

او راځئ چه د قتیبه باهلي حال ته ځیر شو چه د ختیځې خوا وروستی برخی ته ورسید او چین ته له فاتحانه ورتگ نه غیر په بل څه نه خوښیده، په دغه وخت کی ئی یوه تن پیرو د مهربانی له مخی هغه له وړاندی تگ څخه منع کړ او ورته ئی وویل: «اي قتیبه! ته د ترك خاوری ته داخل شوي په داسی حال کي چه د زماني حوادث بدلیږی را بدلیږی او د هری پیښی د پیښیدو امکان شته......» او قتیبه په داسی حال کی چه وجود ئی له ایمانی جذبي څخه ډك ؤ ورته ځواب ورکړ: «په الهي نصرت باندی په کامل اعتماد سره دی هیوادو ته راننوتی یم او که د ژوند پیمانه مي ډکه شوي وی نو چاره او تدبیر به می هیڅ ځای ونه نیسی».

نصیحت کوونکی سړي چه د اعلاي کلمة الله لپاره په ځمکه کی د جهاد او وړاندی تگ لپاره د قتیبه عزم او اراده ولیده ورته ئی وویل: «اي قتیبه! په هر لوری چه وغواړی وړاندی لاړ شه ځکه دا هغه تصمیم او عزم دی چه له الله جل جلاله نه غیر ئی بل څوك نشی بدلولی!».

ای ځوانانو!

دغه ټولی کارنامی چه مو درته بیان کړی د ځوانانو د ایمانی قوت، عزم، قربانی، جهاد او خوځښت په وسیله د اسلامي امت په برخه شوي دی او دا ځکه چه الله اکبر د هغوی پیغام، جهاد د هغوی لاره او د الله تعالی په لاره کی مرگ دهغویستره آرزو وه.

ای ورونو! تر هغه وخته چه د ځوان نسل د شخصیت، علمی، دعوتی او اجتماعی اړخونه یو شان تکامل ونه کړی امکان نشته چه ځوانان خپل اساسي رول ولوبوي، خپل مسئولیتونه سرته ورسوی او خپل رسالت اداء کړی.

د ځوانانو ددعوتی شخصیت د تکوین عوامل ځوان نسل ته دا قوت ور بخښي چه په راستی او اخلاص د اسلام رسالت نړیوالو ته ورسوی او په دغه لاره کي د ملامت کوونکی له ملامتیا څخه ونه ویریږی.

د ځوانانو ددعوتی شخصیت د تکوین عوامل په لاندې ټکو کی خلاصه کیږي:

لمړی- دا چه ځوانان هغه هدف وپیژنی دکوم د تحقق لپاره چه الله تعالی انسان پیدا کړیدی.

دوهم- دا چه ځوانان هغه خطرونه درك کړی چه اسلامی هیوادونه ئی په خپله غیږ کی نیولی دی.

دریم- دا چه ځوانان د بریالیتوب او کامرانۍ په فکر کی وی او د مایوسۍ او نا امیدۍ له احساس څخه ځان لیري وساتي.

څلورم- دا چه ځوانان د هغو کسانو پیروي وکړي چه په اسلامي تاریخ کی ئی د رهبرۍاو زعامت مقام درلود.

پنځم- دا چه ځوانان ددعوت او داعیي له فضیلت څخه خبر وي.

شپږم- دا چه ځوانان په نورو باندی د مؤثریت او آغیزي پری ایستلو په ښو لارو چارو باندی وپوهیږي.

اووم- دا چه ځوانان په قضاء او قدر باندی عقیده د خپل وجود په رگ رگ کی ځای کړی.

مونږ به انشاء الله دغه پورتنی ټکي په خپلو راتلونکو مقالو کی په تفصیل سره وڅیړو.

اعتماد او ښه نيت د اختلافاتو له مينځه وړونکي دي

مرکه

تر کومه ځايه چې لازم وو خو د پېښور، اسلام آباد او جلال آباد په معاهدو کې په ټولو مسئلو تفصيلي خبرې وشوې او د جمعي جوړ جاړې د پاره د شاهدانو په ګډون لا سليکونه وشول او چې بيا هم اختلافاتو ته لمن وهل کيږي مانا به ئې دا وي چې د جهاد اهداف دپامه غورځول شويدي او د اسلامي حکومت د استحکام د پاره د تشو خبرو نه هيڅ نه جوړيږي.

دغه مطلب د افغانستان د حزب اسلامي مرستيال او په نوي کابينه کې د مخابراتو وزير محترم قاضي محمد امين «وقاد» په کابل کې د «دعوت» مجلې له خبريال سره په يوه مرکه کې څرګند کړ او ونې ويل: د جلال آباد لوظنامه چې د ننګرهار د جهادي شورا د ورونو په همت او محنت لاسليك

> زما په نظرد ټولو نه اهمه خبره داده چه جهادي مشران يو پر بل باندې بشپړ اعتماد وکړي او د جهادي ورور ګلوئ په رڼا کې زړونه سره نژدې کړي، دا د نن ورځې ضرورت دی او د افغانستان جنګ ځپلې خلك هم همدا غواړي چې ټول د ورونو په څير سره نژدې شي او د پنځلس کلن خونړي جنګ وراني ويجاړې دوباره آبادي کړي شي.

شوه که چيرې ددې معاهدې مواد او مفردات ټکي په ټکي په خپل وخت عملي شي بې له شکه چې د مشرانو تر مينځ په ټولو اختلافاتو د بطلان کرښه راښکل کيدي شي او مطلوب حکومت جوړيدی شي.

ده ددې پوښتنې په ځواب کې چه د نوي صدر اعظم تر مشرۍ لاندې نوي حکومت او کابينه جوړه شويده خو د اختلافاتو بقاياوې اوس هم ليدل کيږي علت ئې څه دی؟ وويل تر کومه ځايه چې په رهبرانو پورې ئې اړه درلوده، د جلال آباد د لوظنامې په رڼا کې ډيرې اختلافي قضاياوې حل شوې او په يوه اتفاق د صدر اعظم او کابينې د ټاکلو لانجه حل شوه، اوس د ټولو قوماندانانو، مجاهدينو او مصلحينو وظيفه ده چې د لوظنامې د

عملی کولو په کار کی لاس وکړی او د سراسری سولی د تأمین عملیه چټکه کړی، خو له بده مرغه اوس هم داسی ځواکونه او عناصر شته دی چه د مشرانو او مجاهدینو په یو والی کی خپلی ګټی او منافع په خطر کی بولی او په شکل د اشکالو د اختلافاتو پرسوب ته ببوزی وهي،ځکه د امنیت تأمین یوازي په مشرانو پوری منحصر نه دی،بلکه د جهادی تنظیمونو د صفوفو او حتی چه د ټولو افغانانو دا یو تاریخي رسالت دی چه دجنګ د بندولو او د امن د قائمولو په کار کی یو لاس او یو مصلحت شي.

کله چی له قاضي صاحب «وقاد» نه پوښتنه وشوه چه اوس څه کول پکار دی تر څو قوی مرکزی حکومت جوړ شي او د تل د پاره جنګونه بند شي په ځواب کی ئی وویل:

زما په نظرد ټولو نه اهمه خبره داده چه جهادی مشران یو پر بل باندی بشپړ اعتماد وکړی او د جهادی ورور ګلوۍ په رڼا کی زړونه سره نژدی کړی، دا د نن ورځی ضرورت دی او د افغانستان جنګ ځپلی خلك هم همدا غواړی چی ټول د ورونو په څیر سره نژدی شی او د پنځلس کلن خونړی جنګ ورانی ویجاړی دوباره آبادي کړی شي.

اوس چی له نیکه مرغه نوی حکومت جوړ شوی او تر ډیره حده سیاسی فضا د جنګ ختمولو دپاره برابره شوی ده، ددی وخت دی چه دائمي ډز بندي وشی، کار اهل کار ته وسپارل شی، درنی او سپکی وسلی یوه واحد مرکز ته د ټولو په اتفاق را ټولی شی، د اسلامي ملی اُردو د جوړولو غم وخوړلي شي او دټولو نه مخکی د کابل د ښار عام و تام امنیت تأمین شي،د غیر مسؤلو وسله والو کسانو ځای پولیس ونیسي او یو نوی پولیسي نظام تأسیس کړی شي،دمرکز او ولایاتو تر مینځ د پخوا پشان اړیکي ټینګی شي، د لویو لارو نه مزاحمتونه لری شی او ور سره جوخت دخارجی مرستو د راجلبولو په لار کي د لنډی مودی اقتصادی او اجتماعی پلانونه طرح او عملی شی، خو دا کار هلته کیدی شی چه بشپړ امن تأمین وی او مونږ امید لرو چی په دی طرف دګامونو اخستل، پیل شویدي او د جنګ ټولی غاړی دی ته رسیدلی دی چه جنګ مردود دی او د مصیبتونو نه پرته بل ارمغان نلری.

ښاغلی «وقاد» د یوی بلی پوښتنی په ځواب کی وویل دا وخت برسیره پردی چه نوو وزیرانو په کار پیل کړیدی او د وزیرانو د عالی شورا غونډی منظمی جوړیږی، د چارو د تنظیم د پاره دتنظیمونو د نمایند ګانو له خوا نهه کمیسیونونه هم جوړ شویدی چه په مرتب ډول سره غونډی او اجلاسونه کوی چی د سولي د ټینګښت په ماشینرۍ کی ئی نقش د یادوني وړ دی.

په تیره بیا د تنظیمونو څخه ددرنو وسلو د ټولولو کمیسیون چی د جنګ بنسټیز عوامل ورباندی لیري کیږی، د خپل کار په جریان کی پوره پر مختګ کړی دی،که چیري خصمانه لاس وهني پکی ونشي لیری نه ده چه دا جنجالی مسئله به هم حل وفصل شي، خو بیا هم دجهادی تنظیمونو نژدی والی او اسلامي اخوت دې کار ته پوره سرعت ورکولی شي.

والسلام

اسلامي نړۍ ته پېښ مسایل او د حل لارې یې

د لعل محمد افسوس لیکنه

نن سبا د نړۍ زیاتره مسلمانان دسیاسي، اقتصادي او فوځي بحرانونو له لاسه ښکار کیږي، په ځینو اسلامي ممالکو کې مسلمانان په خپلو منځونو کې په جنگ او جګړو اخته دي او په ځنیو نورو کې بیا لکه دبوسینا هرزیګوینا، مقبوضه کشمیر، فلسطین او داسې نورو کې د کفري ځواکونو له خوا د ظلم او بربریت په وحشیانه دامونو کې ښکیل دي.

که چیرې نړۍ ته پام وکړو او وګورو، دا به راته په ډاګه جوته شي چه د اروپا، منځنی ختیځ، د هند نیمه وچه او دمنځنۍ افریقا په مسلمانانو د ډول ډول مشکلاتو او ستونزو لوی لوی غرونه پراته دي.

د اسلامي نړۍ ددې ستونزو او مشکلاتو مختلف وجوهات او علتونه وجود لري، لیکن که له لږ غونډې ژور فکر او سوچ نه کار واخستل شي د مسلمان ملت ددې ستونزو او مصایبو اصلی علت په ټول مسلمان امت کې یوازې او یوازې د اتحاد او اتفاق عدم موجودیت او په دې مشکلاتو سترګې پټول دي.

په ۱۹۷٤ میلادي کال کې د پاکستان د لاهور په ښار کې د اسلامي هیوادونو اسلامي لاربښوونکي را ټول شول او د ټولو مسلمانانو د سیاسي، اقتصادي او اجتماعي ستونزو د حل لپاره یې یوه متفقه لایحه او کړنلاره تیاره کړه، ددې لایحې له نتایجو ځخه داسې بریښیدله چه اسلامي نړۍ کې به له سره یو سیاسي، اجتماعي او یو ټولنیز دور پیل شي، مګر له څو کلونو وروسته په ځای ددې چه په هغه قرارداد یا کړنلاره عمل جاري وساتل شي، بدبختانه هغه اتحاد او ټولنه منتشره او له منځه لاړه. او مسلمانان یا خپل منځي او یا له نورو سره په ډول ډول ستونزو او جنګ او دجګړو په ولونو کې و- نښتل.

د ډیر تأسف خبره ده که چیرې نن سبا د عیسایي یا کوم بل باطل پرست دین او مذهب پیروان د کومې معمولي حادثې ښکار شي، ملګرې ملتونه او ددې سازمان نور نژدې ملګرې هیوادونه د هغوی په اصطلاح د مظلومیت او یا د حق غوښتنې آواز په ډیره جدي اندازه د دوستانو تر غوږونو ورسوي او په هر لحاظ چه وی خپلی غوښتنی په مثبتو جامو ونغاړي. لیکن که یو

مسلمان هر څومره د ظلم په سکروټو پروت وي او وريتيږي، ملګري ملتونه ددی عمل مخالفت نه کوی او نه مخالفت ته د عمل جامه اغوندی او د ظالم په لاس چاړه، دمظلوم له مري نه اوچتوی، که په يو مسلمان هر څومره ظلم عروج ته رسي، هيڅوك ددي مظلوم مسلمان هم آهنګی نه کوی او آواز يی د نورو غوږونو ته نه رسوی. آخر څه وجه او علت دی؟ او داسی ولی کيږی؟

له جذباتو او احساساتو څخه پرته يو ژور او عميق سوچ او فکر په کار دی، چه داسی ولی کيږی. په افغانستان کی د کمونست رژيم تختهِ لا څه چه په نړيواله سطحه د کمونيزم تخته نسکوره شوه. او بيا هم د افغانستان کړيدلی او ځوريدلی خاوره د اور له لمبو څخه خلاصه نه شوه او ددی خاوری مسلمانو بچو د آرام او سوکالۍ ساه وانه خستله. ددی خاوری مسلمان وګړی نن په خپلو کی په يوه او بله بهانه جنګيږی . که اسرائيل، هندیا کوم بل ددی انډول هيواد د ذروی وسلو د جوړولو کوښښونه کوی، د هغوی لپاره د ذروی وسلو جوړول روا او جايز ګڼل کيږی، مګر که يو اسلامي هيواد خپل فنی صلاحيت په پښو و درول غواړی، د ملګرو ملتونو او يا د نورو لويديزو هيوادونو د اقتصادی بنديزونو او يا د نورو نظامي دړکو لاندی راځي.

همدا راز په الجزائر کی له آزادو انتخاباتو وروسته اسلامي حکومت چه د مسلمانانو په غوڅ اکثريت منځته راغی، هغه د چا په لمسه سبوتاژ شو او کوم يو غير جمهوری عمل پکی تر سره شو چه هغه غير قانوني وګرځيد او په يو نظامي او فوځي حکومت بدل شو، يعنی که په هر اسلامي هيواد کی څوك د غربي ديموکراسۍ پيروی نه کوی، لويديزه نړۍ هغه ته د آزادو رايو استعمال نه وايي. د مقبوضه کشمير مسلمانانو ته څکه د آزادۍ حق نه ورکول کيږی چه هغه د هند له يو بی دين او سيکولرستي حکومت څخه بيليږی او د نوری اسلامي نړۍ سره يی د اسلامي ريشتی تړون پيدا کيږی. د بوسينا هرزيګوينا دوه مليونه مسلمانان څکه د وحشي سر بيانو په ظالمانه مرمو غلبيليږی چه د اسلامي قانون لاندی ژوند تير نه کړی او د اسلامي نړۍ له منګلی سره يي لاس يو نشي.

دا ټول کړه، وړه، د يو منظم پروګرام لاندی د اسلام د ډيرو زيرکو دښمنانو په فعاله لارښوونه تر سره کيږی، د عيسايي کليسا ګانو او د خپلو نورو شومو آرزوګانو د پوره کولو او ساتلو په خاطر يی خپلو تعصبي مشينرو کی د اسلام په خلاف يو منظم سازش او جوړ جاړی اختراع کړی دی.

نن د نړۍ د مسلمانانو دا حالات او د ملګرو ملتونو او يا نورو لويديزو هيوادونو دا بی حسي د مسلمانانو په پرهرونو د مالګو دوړولو مترادف او برابر دي.

دا يو مسلم حقيقت دی چه د صليبي جنګونو او له دی څخه د مخه د مسلمانانو په خلاف لويديز خپله تعصبي رويه خپله کړی ده او ليګيا دي د مسلمانانو پر ضد د مسلمانانو د نابودۍ او بربادۍ ډول ډول دامونه ږدی. د اسلامي نړۍ ننني ستونزی او مشکلات د لويديز په مشينری کی د جوړ شوي پلان يوه برخه ده چه نن يی د نړۍ مسلمانانو ته ډول ډول بد بختۍ او تکاليف راوړی دی او مسلمانان د وحشت او بربريت په پنجو کی ښکيل دي. د لويديز دا پلانونه په پرله پسی توګه عملي کيږي، مګر بيا هم مسلمانان ددومره ستونزو او

تکالیفو سره سره چه په غږیدلو سترګو د هغوی دا ناځوانمردانه اعمال وینی او د ځان د خلاصون کومه داسی لار نه لټوی چه هم خپله او هم مسلمان امت د ظلم له ونډی خلاص کړی.

زما په فکر د اسلامي نړۍ د تباهۍ او بربادۍ دا یو څو عمده اسباب او عوامل دي، که په نظر کی ونه نیول شي او د حل لار یی ونه لټول شي، د مسلمانانو به د ظلم او تباهۍ په انتهایي سرحد شپې راشي.

هغه عوامل او اسباب چه د مسلمان ملت دتباهۍ او محکومیت علتونه ګرځیدلي دادي:

۱- اکثره مسلمانانو په تمامه معنی د اسلام ددین آوامر په خپلو ځانونو مکمل نه دي نافذ کړی، د کتاب الله او نبوی سنتو کامله پیروی وجود نه لري.

۲- د نړۍ د مسلمانانو تر منځ د واقعي اتحاد او اتفاق نه موجودیت دی، ټولو کفری ځواکونو د مسلمانانو د نابودۍ او تباهۍ په غرض یو بل ته سره لاسونه ورکړی دي مګر په مسلمان امت کی د اتحاد او اتفاق نه موجودیت د مسلمانانو د تباهۍ یو عمده علت دي.

۳- د مسلمانانو تر منځ د یو اسلامي بلاك نه موجودیت چه د مسلمانانو د کمزورۍ او تیت او پرك کیدو لاره ده.

ددی بر عکس اکثره اسلامي هیوادونو یا په یو کفری بلاك پوری ځان تړلی وی او یا په بل. او خپله دفاع دکفری ځواکونو په ملګرتیا کی ګوری چه د هغوی په خوښه د هغوی د هوسونو لپاره ښکار کیږی. ځینو عربي هیوادونو د قومیت او نژاد په اساس د «عرب لیګ» په نوم یو تړون لری، مګر دا هم دمسلمانانو تر منځ د بیلوالی یو سبب دی چه د «عرب» او «عجم» په نوم د مسلمانانو بیلتون راولي.

٤- دساینسي تکنالوژۍ نه پرمختګ او وروسته والی.

٥- په سیاسی لحاظ د مسلمانانو منتشر او منقسم افکار. دا ډول عامل د کفری ځواکونو یو بل تجربه شوي او کامیاب چال دي، چه هر اسلامي هیواد نن په دی ناروغۍ مصاب او اخته دی او هر اسلامی هیواد یي پخپل کور کی په بیلابیلو ګوندونو او پارټو ویشلي، چه نن هر اسلامي هیواد ته دا سردردی په پراخه پیمانه موجود دی.

٦- د هم آهنګی او یووالی په ځای په مسلمانانو کی ډله ایزو او توکمیزو اختلافاتو ځای نیولی دی.

۷- د اسلامي همدردی، اخوت او محبت په ځای کرکه او نفرت رامنځته شوی دی.

۸- په تعلیمی لحاظ د مسلمانانو وروسته پاتی والی.

۹- نن وخت په ټول عالم اسلام کی دداسی شخصیت نه موجودیت چه هغه پرته له سیاسی او یا مذهبي اختلافاتو ټول مسلمان ملت په یو فلیټ فارم باندی را جمع او منسجم کړی.

۱۰- د اسلامي هیوادونو سوداګریزي چاری او په خپلو منځونو کی د وسایلو او مصنوعاتو نه تبادله کول، که داسلامي نړۍ اقتصادی جغرافیي ته پام وکړو، ټول اسلامي هیوادونه پخپل کور پوره غني او بډایان دي، مګر د شعوري اتحاد په نه درلودلو نن له اقتصادی بحران سره مخ دي.

دا ټول د اسلامي نړۍ د تباهۍ او بربادۍ اسباب او عوامل دی اسلامي نړۍ ته را پیښ مسایل او ددی مسایلو د حل لاری یوازی او یوازی د اسلام د افاقي نظریی په ټینګښت، د اختلاف او تفرق د ټولو عواملو په له منځه وړلو کی نغښتي دی. اسلامي امت باید د الله تعالی په رسۍ منګولی ښخي کړي او خپل اسلامي حیثیت او تشخص ثابت کړی.

د جهادي تنظيمونو څخه د درنې وسلې راغونډول دجنګ بندولو اساسي چاره ده

په کابل کې ددعوت د مجلې خبريال دافغانستان داسلامي دولت د ارشاد او اوقافو وزير ښاغلي ارسلا رحماني سره د روانو سياسي حالاتو د څرنګوالي په هکله مرکه کړې ده چه په لاندې متن سره وړاندې کيږي.

پوښتنه:- مهرباني وکړه او د موجوده سياسي صورت حال په باره کې خپل نظر څرګند کړئ او څنګه کيدې شي د ټولو په خوښه اسلامي حکومت جوړ کړې شي؟

ځواب:- حقيقت دادې چه مجاهدينو پوره څوارلس کاله دحق په لاره کې جهاد او تمام عياره مبارزه کړې ده او يوازنې هدف او مقصد ئې همدا وه چه په ملك کې يو اسلامي حکومت جوړ کړي داسي حکومت چې قرآن او سنت پکې حاکم وي او په اسلامي نړۍ کې يوه ښه نمونه وي،که څه هم دېده مرغه موږ د افغانستان د آزادولو او دالحادي رژيم د پرزولو سره جوخت خپل منځني جنګونه شروع کړل او په دې توګه مو دښمنان خوشحاله او دوستان خفه کړل، خو اوس چې د جلال آباد د وروستنې لوظنامې په رڼا کې سياسي صورت حال ښه شوی دی

دجماعت الدعوت جهادي هويت او فتوحات بايد له پامه ونه غورځول شي.

نوی صدراعظم ټاکل شوی، کابينه جوړه شوی اوپه بيلا بيلو اړوندو چارو کې د مشکلاتو د حل وفصل دپاره ځانګړې او اختصاصي کميسيونونه جوړشويدي، موږ ته دا اميدواري راکوي چه حالات د ښه کيدو او اختلافات د کميدو په طرف روان دي.داسلامي حکومت داستحکام دپاره د ټولو نه مهمه او اوله خبره زما په نظر داده چې عسکرې او ټول نظامي متفرق قوت توحيد او متمرکز شي او يو غښتلي اسلامي او ملي وسله وال پوځ جوړکړې شي، داسي پوځ چې ټول اقشار او مليتونه پکې برخه ولرې او ښه داده چه د مکلفيت په عوض داستخدام خبره غوره وګڼل شي.

په همدې توګه د تنظيمونو ټوله درنه وسله راټوله شي او د ملت له خوا د ټاکلې پوځ په واك کي ورکړشي يا په بله وينا تنظيمونه بې وسلې کړې شي كه چيرې داعمليه سرته ورسيږي د اسلامي حکومت په مخکې ټول خنډونه يوپربل پسې لرې کيدې او نفې کيدې شي.

پوښتنه:- د دائمي ډزبندۍ او د جنګونو دپای ته رسولو دپاره ستاسو سپارښتنه څه شی دی؟

ځواب:- لکه چې مخکې مې هم وويل داوخت دتنظيمونو ترمينځ د جنګونو عمده عوامل د درنو وسلو او تنظيمي پوځونو شته والي دي،چې هر يو ځان خود مختاره بولي او دو سلې

نه په ناجايزې استفادې سره ئې سياسي حالات ګډوډ کړي دي، هغه وخت چې وسله دملت له خوا جوړ اُردو سره ډېپو وي دجنګونو خطره دمنځه ځي او هغه مجاهدين چې مخکې به ئې د وسلې او ټوپك په زور ځان ته روزي پيدا کوله او مزا حمتونه به ئې ايجادول،په دې صورت کې کولې شي په نورو روا کارونو بوخت شي او د جنګ په ځاى د سولې او بيا جوړونې لاره خپله کړي.

زه په جرئت سره دا خبره کوم تر څو چه ثقيله وسله د تنظيمونو څخه وانخستل شي جنګ نشي خلاصيدلى او ان تر دې پورې چې ددې جنګونو دشدت خطر دمرکز نه ولاياتوته هم خپريدې شي او ټولو قومو قبايلواو علاقوته ئې سريع سرايت متصور دى.

پوښتنه:- لکه چې معلومات لرئ په نوي کابينه کې د جماعت الد عوت الى القران والسنت تنظيم او داسې نورو ځواکونو ته برخه نه ده ورکړ شوې،ستاسو د نظر ټکى څه شى دى؟

ځواب:- د جماعت الد عوت تنظيم که د کميت به لحاظ د نورو سره د مقايسې وړنه دى،خود کيفيت او ځوارلس کلن جهاد په دوران کې چې دې تنظيم د توحيد او عقيدې په ځنګ کې د اسلام د دښمنانو سره کومه مبارزه کړې ده،هغه د لمر په شان يو ښکاره حقيقت دى، د بله طرفه ددې تنظيم مشر شهيد شيخ جميل الرحمن (رحمه الله) چې د جهاد بانى او مو-سيس هم ورته ويلى شي، په خپل وخت کې زيات فتوحات کړې دي او دفى سبيل الله جهاد د ښستونو د پياوړتيا په کار کې وتلى نوم او سيرت لرى،څکه نو زمانظر دادى چې ددې تنظيم د جهادي فعاليت په نظر کې نيولو سره بايد ورته برخه ورکړ شي اودجهاد قدرداني ئې وشي.

دارنګه ټول هغه ځواکونه چې د امن په ټينګښت او داسلامي حکوٌمت په جوړيدو او استحکام کې مؤثر نقش لوبولى شي، بايد برخه ورکړ شي او «ميم زور ما ټوله زما» کيسه نوره ختمه کړې شي.

پوښتنه:- د درنې وسلې د راټولولو دپاره د پخو ترتيباتو اعلان شويدې تاسو ددې کميسيون د غړي په توګه په دې کار کې څومره پر مختګ کړيدى؟

ځواب:- هماغسې چې پخوا هم وويل شو چې د موجوده تنظيمي او ډله ايزو جنګونو مهم عامل او منشا همدا درنې وسلې دي. د جلال آباد د معاهدې سره سم بايد د ټولو جهادي تنظيمونو درنې وسلې لومړي سروې او راجستر شي او بيا د خاصو مقرر راتو لاندې هغه کميسيون ته وسپارل شي چې د دفاع د وزارت دچلولو په منظور دټولو تنظيمونو د نمايندګانو څخه جوړ شوى دى. زه هم ددې کميسيون غړي يم،مونږ تر اوسه پورې ددې بلاته د خلاصون په منظور د ډيرو مشرانو سره کتلي دي او په دې برخه کې ټول په يو اتفاق دې نتيجې ته رسيدلى دي چې درنه وسله بايد ټوله او دهيواد د نواحيو څخه د دفاع دپاره ډيپو کړې شي،په دې باره کې جدي اقدامات شروع شوي دي او د يادونې وړ پر-مختګ پکې شوي دي خو بياهم داكار د جهادي مشرانو او قوماندانانو په ښه نيت او حسن تفاهم پورې اړه لرى، که چيرې څوك پکې اختلافات را پيدا نکړي،نودا وخت د درنې وسلې د راټولولو عمليه ګړندۍ او په خپل ميسر کې روانه ده او لرى نه ده چې د الله تعالى په توکل به د دې مسئوليت نه هم کامياب را ووځو.

ستاسو پوښتنې د قرآن او سنت په رڼا کې

د نارینه او ښځو په لمونځ کې د توپیر مسئله:

له مردان څخه محترم ورور محمد شریف د خپل خوږ لیك په ترځ کې لیکلي دي چه زمونږ یو شمیر علماء وایي چه د ښځو دلمانځه طریقه د نارینه ؤله لمانځه نه په ځینو افعالو کې جدا ده، مثلاً نارینه د تکبیر لپاره خپل لاسونه غوږونو ته رسوي او ښځې تر اوږو پورې.نارینه په قیام کې دنامه لاندې لاسونه نیسي او ښځې په سینه باندې او په سجده کې دسرې ورنونه له خیټې نه لیرې وي او ښځو خپلې پښې دخیټې سره جوختې لږولې وي .

هیله کوو پدې هکله معلومات راکړې چه دغه طریقې شرعي حیثیت لري او که نه ؟

گرانه وروره !

دښځو دلمانځه داطرز په ځینو کتابونو او جرائدو کې بې د کومې پلټنې لیکل شویدي، دخیر او نصیحت تقاضاء داده چه علمي بحث وربانديوشي او شرعي حیثیت ئې ولټولی شي .

۱- دتکبیرلپاره دسروغوږونو پورې لاسونه اوچتول په هیڅ کوم صریح حدیث کې راغلي ندي . لکه څنگه چه شارح بخاري، امام حافظ ابن حجر عسقلاني (رحمه الله) او علامه شمس الحق عظیم آبادي فرمائلي دي چه : د نارینه او ښځې د تکبیر لپاره په لاس پورته کولو کې د توپیر دثبوت لپاره داسې حدیث راغلي ندي چه په هغه باندې دلالت وکړي شي، خو دحنفي علماؤ په نزد دښځو لپاره تر اوږوپورې لاسونه پورته کول لازم دي، شاید چه دا د هغوی په نظر زیات د ستر نخښنه ده .

(فتح ا لباري شرح صحیح بخاري، ا بن حجر عسقلاني ج ۲ ص۲۲۲ او عون المعبود شرح سنن ابو دأود للشمس الحق غظیم آبادي ج ۱ ص۲٦۳).

علامه امام شوکاني(رحمتالله) فرمایلي دي :«پوه شئ چه دا رفع الیدین (لاس اوچتول) داسې سنت دي چه داد ښځې او نارینه لپاره یو شان دي، هیڅ یو داسې حدیث نشته چه د دواړو په مینځ کې دفرق په موجودوالي دلالت وکړي او نه داسې حدیث شته چه د ښځې او نارینه د لاس اوچتولو په اندازه کې توپیر ثابت کړي او د امام ابوحنیفه (رحمه

الله) نه روایت دی چه سړی دی تر غوزونو پورې لاسونه اوچت کړی او ښځه دی تر اوږو. او وائی چه داد ښځو لپاره زیات ستر دی، مگر ددی لپاره ورسره هیڅ شرعی دلیل نشته.
(نیل الاوطار للشوکانی ج۲ ص ۱۹۸.)

۲- دقیام په حالت کی دښځی او نارینه لپاره یو شان حکم دی چه هغوی دی خپل لاسونه په سینه وتړی خاص د ښځو لپاره ددی حکم په باره کی د حنفی علماؤ سره کوم صریح او صحیح دلیل نشته.

ستر محدث علامه شیخ محمد ناصرالدین الألبانی فرمایلی دی چه «په سینه باندی لاس تړل دسنتو څخه ثابت دی او دهغی په خلاف چه کوم عمل دی یا خو ضعیف دی او یائی هیڅ اصل او بنسټ نشته،» (صفة الصلوة النبی صلی الله علیه وسلم للالبانی صفحه ٦٩).

په سینه باندی د لاسونو د تړلو پحقله محدث علامه عبدالرحمن مبارکپوری په «الاحوذی شرح جامع الترمذی» او خپلو نورو آثارو کی، علامه محمد حیات سندی رحمه الله په «فتح الغفور فی تحقیق وضع الیدین علي الصدور" کي او مرزا مظهر شهید په رساله "مقامات" کي ډیر مفصل بحث کړي دي چه باید ورته مراجعه وشی.

۳- د سجدی په وخت کی د ښځو لپاره ورنونه له خیټی سره لګول او د سړی لپاره خپل ورنونه د خیټی څخه لیری ساتل حنفی علماؤ په یو مرسل حدیث باندی دلیل راوړی چه ښکی ویل شویدی: « رسول الله صلی الله علیه وسلم ددوه هغو ښځو د خوانه تیریدهٔ چه لمونځ ئی اداء کاوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوی ته و فرمایل چه کله تاسو سجده کوئ د خپل وجود یو څه برخه د ځمکی سره ونښلوئ ځکه چه دښځی د لمانځه حکم پدی برخه کی د سړو د لمانځه پشان ندی.

مگر دادی ښکاره وی چه دا حدیث مرسل دی او مرسل هغه حدیث ته ویل کیږی چه د هغه د سند آخری برخه بیان شوی نه وی یعنی تابعی چه هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه لیدلی وی او نه ئی تری اوریدلی وي او یوازی د قال رسول الله صلی الله علیه وسلم په ویلو سره ئي حدیث بیان کړی وي د زیاتو معلوماتو لپاره د مصطلحات الحدیث د کتابونو کتل غوره دی، څرنګه چه مرسل هم د ضعیفو حدیثونو یو قسم دی نو پدی وجه د ټولو محققینو او محدثینو په نزد په اتفاق سره مرسل حدیث د منلو وړ ندی، نوموړی مرسل حدیث امام ابوداود په خپلو «مراسیل ابو داؤد ص ۸» کی د یزید بن ابی حبیب څخه روایت کړیدی مگر دا روایت هم منقطع دی او د هغه په سند کی یو راوی د سالمو محدثینو په نظر «متروك» هم دی د نور تفصیل لپاره د علامه ابن الترکمانی رحمه الله مشهور اثر «الجوهر النقی علی سنن الکبری للبیهقی ج ۲ ص ۲۲۳» ته مراجعه وکړی.

معاصر محدث علامه شیخ محمد ناصرالدین الالبانی حفظه الله هم د یزید بن حبیب دغه مرسل روایت غیر صحیح ګڼلی دی. (صفة صلاة النبی صلی الله علیه وسلم للالبانی ص ۱۷۰) پدی برخه کی حنفی علماؤ یو بل روایت هم پدی طریقه وړاندی کړیدی. له حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنهم نه روایت دی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دی: «کله چه ښځه سجده کوی نو خپله خیټه دی د ورنونو سره یو ځای کړی ځکه چه پدی کی ددوی لپاره زیاته پرده او ستر دی» دا روایت په"سنن الکبری للبیهقی ج۲ ص ۲۲۲-۲۲۳" کی شته خو پدی باره کی پخپله

امام بیهقی په صراحت سره فرمایلی دی چه «پداسی ضعیف روایت باندی استدلال کول ښه کار ندی» د حیرانتیا ځای دی چه علامه متقی الهندي رحمه الله دغه روایت په کنز العمال کی ولی راخستی دی.

دحضرت عبدالله بن عمر بن خطاب رضی الله عنهم یو روایت هم پدی باره کی بیان کړی شویدی" انه کان یامر نساء یتربصن في الصلاة"(مسائل الامام احمدلابنه عبدالله ص ۱۷) مگر دا روایت هم د سند له مخی ضعیف دی د هغه یو راوی عبدالله بن عمر العمری د محدثینو په نزد ضعیف دی. علامه شیخ محمد ناصرالدین الالبانی حفظه الله ددی روایت په باره کی ویلی دی «دهغه د روایت سند صحیح ندی» (صفة صلاة النبی صلی الله علیه وسلم للالبانی ص ۱۷۰) نو معلومه شوه چه د ښځو د سجدی مروجه طریقه په هیڅ ډول شرعی ثبوت نه لري،بلکه ددی طریقی په خلاف د رسول الله صلی الله علیه وسلم ډیر صحیح او صریح مبارك ارشادات دآحادیثو په مجموعو کی موجود دی. چه د هغو له جملی څخه یو څو په لاندی ډول وړاندی کوو.

۱- لا یبسطه احدکم ذراعیه انبساط الکلب.

ترجمه: ستاسو کوم تن باید (دسجدی په حالت کی) خپلی دواړه متی د سپی پشان ونه غوړوی.

۲- اعتدلوا فی السجود و لا یفترش احدکم ذراعیه افتراش الکلب.

ترجمه: سجده په اطمینان وکړی،او هیڅوك دی هم په سجده کی خپلی متی د سپی پشان نه غوړ وی.

۳- اذا سجد احدکم فلا یفترش یدیه کا الکلب و یضم فخذیه.

٤- نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن نقرة الغراب و افتراش السبع و ان یوطن الرجل المکان فی المسجد کما یوطن البعیر.

٥- نهی النبی صلی الله علیه وسلم ان یفترش الرجل ذراعیه افتراش السبع.

٦- اعتدلوا فی السجود ولا یبسط احدکم ذراعیه فی الصلاة کبسط الکلب.

۷- لا تبسط ذراعیك (بسط السبع)وادعم علی راحیتك و تجاف عن ضعیك فانك إذا فعلت ذلك سجد کل عضو منك معك و غیره .

ښکاره دی وی چه په دی ټولو آحادیثو باندی حضرت انس بن مالك (رضی الله عنه)، جابر بن عبدالله (رضی الله عنه)، ابوهریره (رضی الله عنه) ،عبدالرحمن بن شبل (رضی الله عنه)، براء بن عاذب (رضی الله عنه)، ابی حمید (رضی الله عنه)، عایشه صدیقه (رضی الله عنها)، قتاده، شعبه، لیث، اعمش، ابو معاویه، محمود بن غیلان رضی الله عنهم، مسلم بن ابراهیم، یزید بن هارون، جعفر بن عبدالله، تمیم بن محمود، ابی سفیان، عبدالملك بن شعیب بن لیث، ابن دهب، ابوالعلاء ایوب بن ابی مسکین، اسماعیل بن مسعود، سعید، خالد، محمد بن عبدالله بن عبدالحکیم، شعیب، دراج، ابن حجیره، محمد بن بشار، محمد بن جعفر، امام بخاری، امام ابوداؤد، امام ترمذی، امام نسائی، امام ابن ماجه، امام طیاسی، امام دارمی، ابن خزیمه، امام ابو عوانه، امام بغوی، حافظ مقدسی، امام حاکم، امام ذهبی، امام نووی، امام ابن حجر عسقلانی، امام ابن تیمیه ، امام ابن قیم، امام ابن قدامه مقدسی، علامه ابن رشد القرطبی، علامه نذیر حسین دهلوی، علامه شمس الحق عظیم آبادی، علامه عبدالرحمن مبارکپوری، علامه صدیق حسن خان

بوپالی، علامه محسن الیمانی، علامه عبدالمنان وزیرآبادی، علامه ثناء الله امرتسری، علامه محمد بشیر سهسوانی، علامه ابوالقاسم سیف بنارسی، علامه عبدالجبار کندیلوی او علامه محمد عطاء الله حنیف بوجیانی (صاحب التعلیقات السلفیة) او نور جلیل القدر اصحابو تابعینو، تبع تابعینو، د حدیثو فقهاؤ، محدثینو، شارحینو او د احادیثو علماؤ روایت او اعتماد کړیدی. ځینو محدثینو پدی برخه کی مستقل فصلونه لیکلی دی مثلاً امام بخاری پخپل کتاب (الجامع الصحیح) کی یو فصل «لایفتراش ذراعیه فی السجود» د عنوان لاندی او امام نسائی پخپل کتاب «سنن» کی یو فصل د «النهی عن بسط الذراعین فی السجود» د عنوان لاندی لیکلی دی.

پدی برخه کی د ځو مشاهیرو تصریحات د لوستونکو د اطمینان لپاره وړاندی کوو.

امام ترمذی فرمایلی دی چه د حضرت جابر حدیث صحیح دی په هغه باندی د اهل علم د خاوندانو عمل دی چه په سجده کی میانه روی اختیار کړی او د ځنګلی ځناور پشان خپلی مټی مه خوره وی (جامع ترمذی مع تحفة الاحوذی ج۱ص ۲۳۳).

امام قرطبي فرمايلي چه «دسجدي په حالت کي دمټو خورول » ددغه شکل په کراهت کي هيڅ شك نشته. (تحفةالاحوذي للمبارکپوري ج ۱ص ۲۳۳))علامه ابن قدامه مقدسی د امام ترمذی نوموړی قول نقلوی او فرمائی چه دا افتراش (مټی خورول) هغه دی چه د هغی څخه حدیث منع کړیده. او هغه دا چه څوك چه خپلی مټی داسی په ځمکه ونښلوی لکه چه ځنګلی ځناور ایښنی وی. اهل علم دغه کار مکروه ګڼلی دی. (المغنی لابن قدامه المقدسی ص ۵۱۸-۵۱۹.)

علامه ابو الولید محمد بن احمد المعروف بابن رشد القرطبی فرمایلی دی «په لمانځه کی د اقعاء په کراهت باندی د ټولو علماؤ اتفاق دی، ځکه چه په حدیثو کی ددی کار ممانعت راغلی دی چه یو څوك په لمانځه کی د سپی پشان مټی خوری کړی ... پدی باره کی هم د علماؤ په مینځ کی اختلاف نشته چه دا شکل د لمانځه د شکل څخه ندی. (هدایت المجتهد نهایة المقتصد لابن رشد رحمه الله ج ۱ ص ۱۳۹-۱۴۰)

لکه څنګه چه ثابته شوه چه د سجدی اصل او مسنونه طریقه هغه ده چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خپله طریقه وه او د آحادیثو په ذخیرو کی موجوده ده.

اذا سجد وضع یدیه غیر مفترش ولا قابضهما-

ترجمه: کله چه تاسو سجده ادا کوئ خپل لاسونه په ځمکه مه خوروئ او د خپلو اړخونو سره ئی هم مه نښلوئ. (صحیح بخاری مع فتح الباری ج ۲ ص ۳۰۱ - سنن ابو داؤد مع عون المعبود ج ۱ ص ۳۳۹) اوداسي نور.

ضروری ښکاری چه د ښځو د لمانځه دمروجی طریقی پحقله څو اصولی خبری بیان کړو تر څو د ښځو او نارینه ؤ د لمانځه په مینځ کی حقیقی فرق نور هم ښکاره شی.

اولنۍ خبره خو دا ده چه په قرآنکریم کی چه په کوم ځای کي د لمانځه حکم نازل شویدی په هغه کی الله تعالی په

هیڅ یو مقام کی دښځو او نارینه ؤ د لمانځه په طریقه کی کوم فرق ندی فرمایلی.

دوهمه خبره داده چه د رسول الله صلي الله علیه وسلم دکوم صحیح او ثابت حدیث څخه د ښځي او نارینه د لمانځه په طریقه کي فرق ثابت شوي نه دي.

دریمه خبره داده چه د رسالت د وخت څخه تر نن پوری ټولو امهات المؤمنین، اصحابیاتو او په حدیثو باندی د عمل کوونکو ټولو ښځو د لمانځه طریقه نسل په نسل هغه ده چه څنګه د سړو طریقه ده.

لکه څنګه چه امام بخاری د «ام درداء» څخه په یوه صحیح سند سره پخپل (تاریخ الصغیر) کی داسی بیان کړی دی. «هغه په لمانځه کی د نارینوؤ پشان کیناستله او هغه فقیه وه." (تاریخ الصغیر للبخاری ۹۵)

څلورم دا چه په صحیح بخاری کی د لمانځه د طریقی پحقله د رسول الله صلی الله علیه وسلم یو صریح او عام حکم شته: صلوا کما رأیتمونی أصلی . تاسو په هغه طریقه لمونځ وکړی په کومه طریقه چه ما دلمانځه په کولو کی وینئ (صحیح بخاری مع فتح الباری ج۲ ص ۱۱۱- ارواء الغلیل للالبانی حدیث ۲۱۳.)

څرنګه چه پدی حدیث کی عموماً ښځی او نارینه دواړه شامل دی نو پدی اساس د ښځی او نارینه په لمانځه کی فرق بیانول د رسول الله صلی الله علیه وسلم ددی ښکاره حکم سره د مخالفت کولو معنی ده. (فنعوذ بالله من ذلك.)

پنځمه خبره داده چه په سلف صالحینو، خلفاء راشدینو، صحابه کرامو، تابعینو، تبع تابعینو، صالحین امت، او هغه ددین علماؤ کي چه ټولو ته د تمسك یالحدیث النبوی تل پاتی نعمت ور په برخه شویدی څوك داسی نشته چه په دلایلو سره دعوه وکړی چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو او نارینوؤ لپاره جدا جدا د لمانځه طریقه بیان کړی وه،بلکه ابراهیم النخعی خو په ښکاره ډول فرمایلی دی چه " ښځی دی په لمانځه کی هماغه د نارینوؤ طریقه خپله کړی" (مصنف ابن شیبه ج۱-۲ ص ۷۵ بسند صحیح).

یا د وساتی‌ږچه لمونځ د تکبیر نه دتسلیم پوری دښځو او نارینوؤ لپاره په یو شکل دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښځو او نارینوؤ په لمانځه کی د بیلو بیلو طریقو پحقله څه ندی فرمایلی.

البته د جامو، ستر او د ښځی د امامت په وخت کی ښځه امامه د مخکی صف په مینځ کی ودریدل، د نارینه امام د سهوی په وخت کی د تنبیه لپاره دښځي لاس پړقول، د نارینه امام تر شا د ښځو لخوا په ټیټ آواز آمین ویل، د ښځو لپاره د ښځو د وروستی صف فضیلت او د حیض په دوران کی د ترك شوو لمونځونو معافی او قضاء نه درلودل هغه توپیرونه دی چه له نبوی آحادیثو نه ثابت دی خو دغه ټول منصوصه تفریقات د مروجه غیر منصوصو تفریقاتو لپاره هیڅکله هم دلیل کیدی نه شی.

هذا ما عند والله اعلم بالصواب

د ليكونو بهير

د باجوړ ايجنسي څخه فضل مولا «علميار» ورور پخپل راليږل شوي ليك كي داسي ليكي:

محترم ددعوت مجلي سرمحرر او نورو همقدمو، هملارو او هم اوازو ملګرو!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته .

اميد لرم چه زمونږ دميني او محبت نه ډك سلامونه ومنئ!

محترمو ورونو: مونږ هر وخت ددعوت مجلي ته سترګي په لاره يو او دا ځكه چه ما كله د لومړي ځل لپاره ددعوت د مجلي يوه ګڼه ولوستله، دمجلي د موثرو مضامينو په لوستلو زما تعلقات د سلفي عقيدي سره قايم شول. نو اميد دي چه دعوت مجله راته پخپل وخت سره راواستوئ دا به مو ډيره مهرباني وي.

والسلام

****

د چكدري د كيمپ د دارالحفاظ طالب العلم شمس الرحمن «دلسوز» ورور ليكي:

محترم ددعوت پښتو مجلي مدير او نورو كاركوونكو:

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته!

له هر څه نه مخكي د الله تعالي په دربار كي سوال كوم چه الله تعالي مو د صحت په جامو كي پټ او د قرآن او حديث په اشاعت كي تل كامياب لره!

مونږ څو وړانديزونه درليږو كه ممكنه وي غور پري وكړئ:

اول دا چه كه تاسي "دحق ګونګوسي" په نوم كتاب لرئ مونږ ته ئي راواستوئ.

دوهم دا چه مونږ ته ددعوت پښتو مجله په خپل وخت نه رارسيږي او كه كله مو په لاس راشي نو ډير وخت پري تير شوي وي. والسلام

****

د باجوړ ايجنسي د كرهاليي له كيمپ څخه نجيب الله «حقيار» ورور د خپل يو ليك په ترڅ كي ليكي:

فضيلت مآب ددعوت مجلي مدير او نورو كاركوونكو!

السلام عليكم ورحمت الله وبركاته .

لومړي ستاسي كامل صحت او وړيسي ددعوت مجلي سرفرازي له الله تعالي څخه په ټوله نړۍ كي غواړم!

عرض لرم چه ددعوت مجلي وېښ کارکوونکي دي نور هم خپلو ديني مسئوليتونو ته متوجه او بيدار اوسي او خپلي ديني لارښوونې دي د قرآن او سنت په رڼا کي لوستونکو ته ورسوي.

او يو تجويز درليږم چه ددعوت مجلي زيات شمير بايد د افغانستان مرکز کابل ته وليږل شي ترڅو ناخبره خلك ددي مجلي له لاري د قرآن او سنت له زرينو احکامو څخه خبر او مستفيد شي او د فلاح او نجات ذريعه ئي وګرځي.

«په درنښت»

****

د دير ضلعي د خال تحصل څخه زمونږ يو هميشني همکار حضرت ګل «صديقي» ورور پخپل يو راليږلي ليك کي ليکي چه:

محترمو ددعوت پښتو مجلي کارکوونکو ورونو!

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.

له هر څه مخکي ستاسو د حق مقصد ته د رسيدو دعا د لوي او بخښونکي الله جلاجلاله نه غواړم!

ما مخکي هم څه ليکونه درليږلي وو، مګر ځيني لا تر اوسه په مجله کي ندي نشر شوي، په هر صورت بيا هم دا ليك دراستوم هيله ده چه نشر ته به ئي وسپارئ، بل تاسي چه کومي مجلي ماته راليږلي وي، هغه ماته راورسيدي، د راليږلو ئي مننه څرګندوم.

والسلام

****

د دعوت پښتو مجلي ډيرو خوږو او قدر منو لوستونکو!

مونږ هم پخپل نوبت سره ستاسو ټولو سلامونو ته په ډير درناوي وعليکم السلام او د دعوت پښتو مجلي او کارکوونکو ته په دعاګانو ئي امين وايو. ستاسو د نيکو پيرزونو او نيکو احساساتو ډيره مننه! قدرمنو لوستونکو!

ستاسو راليږل شوي ليکونه مو دادي د دعوت مجلي مخونو ته وخيژول، هيله ده چه د نه نشر کولو ګيله به مو ورکه شوي وي، خو بايد زمونږ دا يو معذرت به هم قبول کړي چه ليکونه ډير زيات وي او هر ليك پخپل وار سره نشر ته سپارو ځکه هغه د پښتو ژبي يو متل دي چه "ژرنده که د پلار ده هم په وار ده" او ځيني ليکونه داسي هم وي چه په هغو کي نه څه کوم وړانديزونه او تجويزونه او نه څه نيوکي وي نو پدي خاطر ئي د نشر وړ نه ګڼو. بل ځينو ورونو د مجلي د نه رسيدو شکايت کړي دي نو ښه به دا وي چه که کله تاسو يا ستاسو نور دوستان پيښور ته راځي نو هغه دي د دعوت مجلي له دفتر سره ارتباط نيسي او مجله دي تر لاسه کوي چه دغه شان مجله پخپل لاس تر لاسه کړئ. زمونږ يو ورور د"حق ګونګوسي" په نوم د يو کتاب غوښتنه کړيده نو ګرانه وروره دغه کتاب مونږ نلرو که لرلاي مو دراستولي به مو ؤ.

ستاسو د کاملي روغتيا او کاميابي په هيله!

د دعوت پښتو مجلي د اداري لخوا

احمد شاه ((وحدت))
Ahmad Shah (Vahdat)
A. K. P. O.

ارشاد نبوي

رسول الله صلى الله عليه وسلم يو ځل د طواف په ترڅ کې بيت الله شريف ته په خطاب کې وفرمايل: څومره پاك ئې ته او څومره زړه راښکونکې ده ستا فضاء، څومره عظيم ئې ته او څومره محترم دی ستا مقام، خو په هغه رب مې دې قسم وي چه د محمد (صلى الله عليه وسلم) روح ئې په واك کې دی چه د يو مسلمان د ځان او مال احترام ستا د حرمت نه زيات دی.

(ابن ماجه - ۳۹۳۲)

از ارشادات امام الجهاد شهید شیخ جمیل الرحمن (رحمه الله)

★ رسالت و مسئولیت دعوت اسلامي بعد از انبیاء وظیفه تمام امت مسلمه است.

★ دعوت الی الله بخش عمدهء سیرت مبارك نبی اکرم صلی الله علیه وسلم را تشکیل میدهد و این فریضه فرد فرد ما نیز میباشد.

★ مهمترین سبب استضعاف مسلمانهای امروزه، فاصله گرفتن تدریجی و بیخبری مسلمانان از اسوه حسنه نبي کریم صلی الله علیه وسلم و ارشادات کامل انحضرت است.

★ ما دامیکه امت مسلمه سیرت مبارك و نقش قدم واسوه حسنه نبي کریم صلی الله علیه وسلم را بطور درست و صحیح در عمل و کردار خویش تطبیق نه نمایند، موفقیت و راه نجات را نمي یابند.

★ قرآن کریم سیرت پاك رسول الله صلی الله علیه وسلم و تاریخ سعادت و موفقیت اسلام است.

★ تمسك به کتاب الله وسنت رسول الله موفقیت وسعادت دنیا و آخرت مسلمانان را تضمین میکند.